# اوبهٔ او انرژي




## د اوبو او انرژي وزارت


**۳۲ گڼه**

**د اوبو او انرژي وزارت خپرنيز ارگان**

**خوارلسم کال دوه دېرشمه گڼه، د ۱۴۰۴ هـ ش کال دريمه ربع (ميزان، عقرب، قوس) چې د ۱۴۴۷ هـ ق کال سره سمون لري.**

## د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله‌ورعاه د فرمانونو لهٔ منځپانګې څخه

### د واده پــه اړونــدو امـــورو کـــي د رعـــایت وړ ټکي

**لومړۍ ماده:**

(۱۳) د دستمال مراسم به په هوټل کي نه‌وي؛ ځکه دا اسراف دی او االله تعالی فرمایلي دي: ﴿يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾ (الاعراف: آیت ۳۱).

ژباړه: ای زامنو د آدمه! واخـــلئ تاسي زینت (ښائست) خپل په نزد (د وخت) د هر لمانځه (په اغوستلو د پاکو کالیو(جامو) د عورت ستر) او خورئ او څښئ او اسراف (بې ځایه خرڅ) مه کوئ تاسي بې شکه چي الله نه خوښوي مسرفان (بې ځایه خرڅ کوونکی). (کابلی تفسیر)

(۱٤) له کوژدې او نکاح وروسته دي هڅه وشي چي د امکان په صورت کي هر څومره چي ژر وي، واده وشي.

(۱۵) له کوژدې وروسته رواجي او تکراري پوښونه (جوړې) منع دي، په کال کي یو ځل د زوم له‌خوا یوازي ناوي ته له اسراف پرته د وسعې مطابق د پوښ (جوړې) ورلیږلو اجازه شته، د ناوي له‌خوا زوم ته پوښ (جوړې) ورلیږل مطلقاً منع دي.

(۱٦) د ولیمې او واده مراسم به له اسراف او ریاء پرته د زوم د وسعې مطابق د هغه د خوښې په ځای او موټرو کي ترسره کیږي، خسرګنۍ بې نه‌شي مجبور کولای چي په هوټل، یا قیمتي موټرو کي د واده مراسم ترسره کړي.

(۱۷) زوم به د واده مراسم په امارتي موټرونو کي نه ترسره کوي.

(۱۸) د واده پر وخت د زوم له‌خوا دي د ناوي کورنۍ ته خوړې یا طوی (پاخه یا خام خوراک) نه ورول کیږي، همدارنګه د بولۍ(شیریني خورۍ) او جوړې د مصارفو اخیستل او غوښتل هم منع دي او همداراز له زوم څخه د دودي او ټکري په نوم او یا په نورو نومونو رختونه غوښتل منع دي او د شریعت له‌مخې د یادو شیانو اخیستل ناجائز کار دی.(۱۰)

(۱۹) د ناوي ورلو پر وخت د ناوي د ماما، د ناوي د همزولو، د کلیوالو او یا بل خدمتګار له‌خوا او یا د دوی لپاره د زوم له کورنۍ څخه پیسې غوښتل منع دي، البته که د کلي خدمتګار ته چي همېشه په ښادیو کي د کلیوالو خدمت کوي په خپله خوښه څوک د صدقې په نوم پیسې ورکوي، باک نه‌لري.(۱۱)

(۲۰) په ودونو کي د لوبو داسي مسابقې جوړول چي ګټونکي ته د موټر، موټرسایکل یا بل شي انعام ورکول کیږي منع دي، ترڅو د بې‌ځایه اسراف مخه ونیول شي، البته د جائزو لوبو مسابقې چي انعام پکې نه‌وي، جوړېدای شي.

(۲۱) د کوژدې، دستمال یا واده د مراسمو پرمهال ډزې (ټکان) کول او له امارتي وسایطو څخه استفاده کول منع دي؛ همدارنګه په ورته مراسمو کي د موټرو او موټرسایکلو ځغلول، لویې ورلوې تیارول او یا داسي نور کارونه چي د لارې د بندېدو یا د تلفاتو او یا د خلکو د اذیت سبب کیږي، منع دي.

(۲۲) په واده کي یا له هغه وروسته ناوي ته د نورو کورونو د نارینه‌وو او ښځینه‌وو له‌خوا برخه (جامې/پیسې) ورکول او بیا د ناوي له‌خوا په عوض کي برخه ورکول منع دي؛ ځکه له دې ناوړه رواج څخه یو دروند تکلیف رامنځته شوی او بده لا دا چي د هر څه عوض به ښېرته ورکوي چي د محبت پرځای نفرت پیدا کوي.

(۲۳) د دستمال په مـــراسمو کي به د زوم له کور پرته نور مېلمانه ناوي ته د پیسو ډالۍ نه‌ورکوي او نه به د ناوي کورنۍ مېلمنو ته جامې او نورې ډالۍ ورکوي، البته له اسراف او ریاء پرته د مېلمنو اکرام پروا نه‌کوي.

(۲٤) بدل/موخۍ ښه عواقب نه‌لري حتی الامکان دي ترې ډډه وشي، د بدل/موخۍ په صورت کي د مهر ټاکل او ورکول ضروري دي، علماء کرام دې د بدل/موخۍ د کراهیت په هکله خلکو ته پوهاوی ورکړي.(۱۲)

# د دې ګڼې په پاڼو کې


سرلیکنه.....................................................................................۲

د ۱.۱.۱ د اوبو او انرژي وزیر د ټاپ نړیوالې پروژې له رئیس او د ترکمنستان هېواد له سفیر سره د ټاپ پروژې د بهیر د چټکتیا په هکله خبرې، اترې وکړې.٦

د اوبو او انرژي وزیر صاحب د انرژي اونۍ نړیوال فورم کې د ګډون لپاره روسي فدارسیون ته په سفر ولاړ...................۱۰

نماینده سفارت روسیه مقیم کابل و مسئولان سه شرکت معتبر روسی آمادگی خویش را برای سرمایه گذاری در پروژه های آب و انرژی افغانستان اعلان نمودند ..۱۱

د اوبو او انرژي په سکتورونو کې د پانګونې فرصتړنو د پېژندنې ناسته ترسره شوه ............................................۱۲

د مقالو برخه.........................................................................۱۳

54..Meeting Held to Identify Investment Opportunities in the Water and Energy Sectors

56..Minister of Energy and Water Urges Officials and Staff to Uphold Responsibility, Integrity, and Obedience



د امتیاز خاوند: د اوبو او انرژي وزارت
مسؤول مدیر: خواجه فقیر محمد " صدیقي "
کتنپلاوی:
قاري محمد عبدالعزیز "عزیز"
الحاج غلام جیلاني "حق پرست"
انجنیر عزیزالرحمن "عزیز"
برکت الله " آریوبي"
انجنیر همت الله "امین زی"
سموونکی: بازمحمد " درمل "
ژباړونکی: فهیم " صمیم "
راپور تران: نعمت الله " اخلاقي" او اسدالله "ایوبي"
عکس اخیستونکی: محمد حکیم "فیض"
ډیزاینر: سید مصور " سادات "
وېشونکی: سیدعادل "سادات"



درک: د دارالامان عمومي سرک، سناتوریم، کابل- افغانستان
ویب پاڼه: mew.gov.af
برېښنالیک: chiefofstaff@mew.gov.af
info@mew.gov.af
د اړیکو شمېرې: ۰۷۷۷۲۲۰٦۱۸ / ۰۷۷۷۹۱۷۸۹۸


درنو لوستوونکو!
د « اوبۀ او انرژي » مجلې او میاشتنۍ جریدې د سافټ موندلو لپاره کولای شئ، ددې اداري ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.

یادونه: کومې مقالې چې په" اوبۀ او انرژي" مجله کې خپرېږي، پۀ لیکوالانو پورې اړه لري؛ هر لیکوال ته بویه چې د خپلې لیکنې دفاع پخپله وکړي.

د مجلې او لیکوال د نوم پۀ یادولو سره هر چاته د مأخذ پۀ توګه د استفادې اجازه ده.

# سرلیــــــکنه

## پخپلو لومو کې ګیر شو

هسې خو د پاکستان د پوځي رژیم ځینې کړیو محاسبې او اټکلونه اکثره ناسم خېژي؛ خو لهٔ کله څخه چې په افغانستان کې اسلامي امارت  دوهم ځلې واکمن شو، اشغالګر او لاسپوڅي یې یو په بل پسې وتښتېدل، دلته په افغانستان کې د مجاهدینو په لاس اسلامي نظام حاکم، شرعي قانون نافذ، سرتاسري امنیت او ملي یووالی تأمین او د واک او ځواک واګې د اسلام د دین سرسپارلو غازیانو او د هېواد د واقعي او مخلصو بچیانو په لاس ورغلې؛ نو د غرب لهٔ خوا څخه پاکستان ته بهېدونکې د ډالرو چینې هم ورسره وچې شوې، نو د یاد هېواد پوځي رژیم ځینې ځانګړې او محدودې کړۍ په دې لټه کې شوې/ دي، چې په یوهٔ نه، یوهٔ شکل د افغانستان خلکو او حکومت ته ستونزې ایجاد او ددغه هېواد د پرمختګ او سوکالي مخه ونیسي.
د افغانستان د خلکو او حکومت هغه دښمنان چې لهٔ ملت څخه رټل شوي، تښتېدلي او په ولس کې هیڅ ریښه نه لري، هغه د چا خبره پل یې په مرو ایرو نه معلومېږي، دوی په غېږ کې ونیول، تر څو یې په شا وټپوي او د افغانستان امنیت اخلال او د یوه  اندازه ناچیزه څېرې په بدل کې دوی ته چوپړ ووهي؛ خو الحمدالله چې ددغه خوب تعبیر یې معکوس وخوت.

دغه راز په هر نړیوال فورم کې د افغانستان په ضد زهرجنې ویناوې کوي، چې تر اوسه یې هیڅا هم پهٔ رمباړو غوږ نه دی ګرولی، هیڅ اهمیت یې نه دی ورکړی او چا یې په خولهٔ پیاز هم نه دی خوړلی او امارت یې د هرې وینا ځواب په زغرده ورکړی او د دوی ریښتینې څېره یې بربنډه کړې ده.

دغه پاکستاني ځانګړو پوځي کړیو د مهاجرینو د نړیوالو قوانینو او مقرراتو څخه په بربنده سرغړونه سره په هغه هېواد کې د مېشتو افغان مهاجرینو د ځورولو، ربړولو، لوټلو او شړلو لهٔ لارې د افغانستان حکومت او ملت ته د ستونزو ایجادولو هڅې کړې/کوي یې تر څو له دغې لارې خپلې موخې ته ورسېږي؛ خو الحمدالله چې د افغانستان اسلامي امارت او ولس خپلو دغو راستنیدونکو هېوادوالو ته د مینې، اخلاص او شفقت غېږه پرانیستې، دوی ته یې ښهٔ راغلاست ویلی او هره شونې مرسته یې ورسره کړې ده.

دغه راز دوی د ټولو نړیوالو سوداګریزو او ترانزیټي اصولو او قوانینو خلاف له بندرونو څخه د یوې وسلې او فشار د یوې آلې په توګه کار اخیستی/ اخلي.

د فشار د نورو وسیلو تر څنګ یې د افغانستان د سختې اړتیا پر وخت یادې دروازې د مسافرینو او سوداګریزو توکو د انتقال پر مخ تړلې دي.
په تېره بیا نژدې دوه میاشتې وړاندې چې کله د پاکستان سرحدي ځواکونو د پوځ د ځانګړو کړیو په قومانده د فرضي کرښې په اوږدو کې د افغانستان په خاوره باندې یرغل وکړ، هم مهاله یې د سوداګرو پرمخ خپلې تولې دروازې وتړلې تر څو یرغل او د دروازو بندولو پروسه هم مهاله او موازې پرمخ بوزې، دوی دومره ړاندهٔ او کاڼهٔ وو، چې فکر یې کاوو د دروازو بندول به یواځې افغانستان ته زیان واړوي؛ خو الحمدالله چې د پاکستان لهٔ یرغل سره سم لمړی د افغانستان ټول ملت د سمت، ژبې، نژاد او...لهٔ توپیره پرته په یوهٔ غږ یوه خولهٔ او یوه قومانده لاندې د پاکستان خلاف په نظامي، سیاسي، اقتصادي او تبلیغاتي سنګرونو کې ودرېدل او داسې عبرت ناک درس یې ورکړ، چې ټوله نړۍ ورته ګوته په غاښ ودربده.

پر دې سربېره د اسلامي امارت وینبه او بیداره رهبري او ټول ملي سوداګر د سوداګرې لپاره د بدیلو لارو او مارکېټونو په لټه کې شول، چې په ډېر لنډ وخت کې یې نړیوالو بازارونو ته ځمکنۍ، هوایي او سمندري لارې ولټولې، داسې بازارونو ته یې لارې وموندلې چې د پاکستان په پرتله یې سوداګرې څو برابره ګټوره او د باور وړ ده.

بلې خواته که پاکستان وګورو پر افغانستان سر بېره یې د منځنۍ آسیا هېوادونو ته د سوداګریزو توکو د انتقال دروازه پخپل لاس د خپلو  سوداګرو پر مخ وتړله، کرنیز تولیدات یې یا په کروندو او یا هم په بازارونو کې خوسا او یا په نه بیه پلورل کېږي.

د درملو او صنعتي تولیداتو فابریکې یې په ټپه ودرېدې په میلیاردونو کلدارو زیان ورته واوښت او په زرګونه کارګران یې بې کاره شول.

لنډه دا چې پاکستان د خپلو ناسنجیده او ناعاقیت اندېشانه پرېکړو په سبب په خپلو لومو کې ګېر او خپله پښه یې په تبر غوڅه کړه. اوس دې نو د خپلې سرزورې او تکبر پایلو ته ټینګ شي.

رحمان بابا وایي:

کوهې مه کنه د بل سرې په لار کې
چېرې ستا به د کوهې په غاړه لار شي

البته یوه یادونه باید وکړو افغانان چې څومره په خپل زیان خفه کېږي، همدومره د پاکستان د سوداګرو او ولس په زیان خفه کېږي. خو اوبهٔ د دوی د واکدارانو له خوا خړې دي.

دوی باید خپل چاراواکي خپلو سترو اشتباهاتو ته متوجه کړي، چې یو ځل یې هېواد ورته تجزیه کړ، پاتې هېواد یې لهٔ آی، ایم، ایف او نورو ادارو او هېوادونو سره ګرو کړ او اوس یې لهٔ خپل مسلمان ګاونډي ( افغانستان سره) د جنګ اور ته ټېل وهي او هم یې د سوداګرې مخه نیسي.

# سلام اومصافحه ،فضايل اومسايل

ليکنه: مولوي عزيزالله«سها»

**مقدمه:**

د تحيت او سلام اصل دالله تعالى لخوا څخه دی، کله چې الله تعالى حضرت آدم عليه‌السلام پيدا کړ، ورته يې وفرمايل:

اې آدم! لاړ شه، هغو فرښتو ته سلام وکړه او وګوره چې هغوی تا ته څه ډول جواب درکوي، ځکه دا به ستا او ستا د اولادونو د تحيت (سلام) طريقه وي. (صحيح البخاری کتاب بدء الخلق، حديث ۳۳۲۶)

همداشان دقرآني آياتونو له مخې، سلام او تحيت په مخکښنيواديانواو قومونو کې د اسلام له ظهور وړاندې هم موجود وو. مثلاً په آية کريمه کې د ابراهيم عليه‌السلام په زمانه کې چې فرښتې ورته داخلې شوې «سلاماً» يې ورته وويل: «وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى قَالُوا سَلاماً»

همدارنګه، د اسلام دمقدّس رسول حضرت محمد (ص) په زمانه کې د عربو دجاهليت له مراسمو څخه يوه بنه دتحيت موجوده وه، خو د "سلام" اسلامي بنه يې نه درلوده.

د مکې مکرمې لومړی کلونه وو ،پيغمبر ﷺ خپلو اصحابو ته په پټه سره د سلام امر وکړ او ورته ويې ويل:"افشوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ.کله چې مديني منورې ته هجرت وشو خداوند متعال دسلام د عامولو دا آيت کريمه :إِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا نازل کړ، په وروستيوکې د اسلامي امت د تنظيم وخت و چې سلام د مسلمانانو د شعار په توګه ومنل شو ، او اسلام سلام ته د يوه رسمي او معنوي حکم بڼه ورکړه.

لکه څرنګه چې اسلام د محبت، اتفاق او وروروولی دين دی،د همدې روښانه دين له ښکلو سنتونو څخه يو هم سلام او مصافحه ده ،چې د زړونو د مينې، عاجزی ، د ښېښې وسيله،د جنت لاره او دبرکت نښنه ده.

راځئ چې دا سنت په سالمه طريقه ژوندی وساتو، اولادونو، خپلوانواو ګاونډيانو ته يې له اصولو سره سم ور زده کړو او خپل زړونه ،کورونه اوکوڅې د سلام په رڼا روښانه کړو.

وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ الحج: ۳۲

دسلام فضايل:

۱. سلام اچول د ايمان اومحبت شرط دی.

رسول الله ﷺ وفرمايل:

«لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ.» (صحيح مسلم، حديث: ٥٤)

ژباړه: "تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو ايمان و نه لرئ، او ايمان به ونه لرئ تر څو يو بل سره مينه ونه لرئ. ايا زه در ونښيم هغه څه چې که يې وکړئ، يو بل سره به مينه پيدا کړئ؟ سلام خپور کړئ.

۲. د سلام پيل کول د تقوا او عاجزی نښنه ده.

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، الرَّجُلَانِ يَلْتَقِيَانِ، أَيُّهُمَا يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ؟ قَالَ أَوْلَاهُمَا بِاللَّه أَحْسَنُهُمَاتَحِيَّةً«سنن ترمذي، حديث: ۲٦۹٤حديث حسن)

ژباړه: حضرت ابوامامه رضي الله عنه وايي: چا وويل، ای د الله رسوله! کله چې دوه کسان يو له بل سره وګوري، له دوی څخه کوم يو بايد په سلام پيل وکړي؟

نبي ﷺ وفرمايل: هغه څوک چې له الله سره نېږدې وي، هغه دی ،چې په سلام پيل کوي.

يعني: تر ټولو نېک هغه دی چې په سلام کې پيل کوي.

۳.د سلام خپرول د جنت سبب دی.

«أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَصِلُوا الْأَرْحَامَ، وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ، تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ.» (ترمذي، حديث: ۲٤٨٥:حديث: ۳۲٥۱:مسند احمد، ۲۳٤٤٥)

ژباړه: "سلام خپور کړئ، خوراک ورکړئ، خپلوي وساتئ، د شپې لمونځ وکړئ، جنت ته به په سلامتيا داخل شئ.

٤. سلام دبرکت ذريعه ده.

سَلِّمْ عَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ إِذَا دَخَلْتَ بَيْتَكَ، فَيَكُونُ سَلَامُكَ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ. (رواه الترمذي)

ژباړه:

کله چې خپل کور ته داخلیږې، پر خپلو اهلِ بیتو سلام وکړه، ستا سلام پرتا اوستا د کورنۍ لپاره برکت وي.

۵. سلام اچونکی بهترین شخص دی.

«إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللَّهِ مَنْ بَدَأَهُمْ بِالسَّلَامِ» (رواه أبو داود: ٥١٩٧ الترمذي: ٢٦٩٤وقال: حديث حسن)

ژباړه:دالله پاک په نزد په خلکو کې بهترین کس هغه ښوک دی چې په سلام پیل کوي.

٦.مصافحه ګناهونه ختموي.

عَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ:«ما من مسلمين يلتقيان فيتصافحان إلا غُفِر لهما قبل أن يفترقا»

(رواه أبو داود في السنن، كتاب الأدب، باب في المصافحة، رقم ٥٢١٢)

ژباړه:

د دوو مسلمانانو له منځه هیڅ داسې نه وي چې یو له بل سره ملاقات وکړي او لاسونه سره ورکړي (مصافحه وکړي)، مګر دا چې له یو بل څخه تر جلا کېدو مخکې الله دواړو ته ښښنه کوي.

دسلام مسائل:

۱-سلام کول سنت دي او ځواب ورکول واجب دي.[المحيط البرهاني في الفقه النعماني، ٥/٣٢٦

۲-بهتره داده چې سلام په دې الفاظو وشي:

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

دسلام ځواب په دې الفاظو وکړل شي:

وعليكم السلام ورحمةالله وبركاته.

(المحيط البرهاني في الفقه النعماني، ٥/٣٢٦)

۳-د سلام (السلام عليكم ورحمةالله وبركاته)وروسته نور څه زیاتول مناسب نه دي، ځکه چې د سلام بشپړ او وروستی حد د «وبركاته» کلمه ده.

(المحيط البرهاني في الفقه النعماني، ٣٢٦/)

٤-روان کس دې ناست کس ته سلام وکړي. (صحیح بخاري، ٢/٩٢١)

٥-سپور کس دې پلي(پیاده) ته سلام وکړي. (صحیح بخاري، ٢/٩٢١)

٦-لږ شمېر کسان دې ډېرو ته سلام وکړي. (صحیح بخاري، ٢/٩٢١)

٧-کوچنی (کم عمره)دې مشر ته سلام وکړي. (صحیح بخاري، ٢/٩٢١)

٨- بهتره داده چې ماشوم ته سلام وشي.

(الموسوعة الفقهية الكويتية، ٢٥/١٦٥)

٩-سلام دې هر مسلمان ته وشي، که يې پیژني یا نه. (صحیح بخاري، ٢/٩٢١)

١٠-کاڼه (نه اوربدونکی )کس ته ،سلام اچوونکی به دخپلو شونډو په ښوروولو (حرکت ورکولو)سره سلام واچوي.

(المحيط البرهاني في الفقه النعماني، ٥/٣٢٦)

١١-که څوک پر ګونګ سړی سلام وکړي او هغه په لاس اشاره وکړي، دا اشاره د سلام د ځواب لپاره کافي ده، ځکه د ده اشاره د خبرو ځای نیسي. او همدارنګه، که ګونګ سړی په اشاره سلام وکړي، بل ته د سلام ځواب ویل په الفاظوواجب کېږي،(په ژبه).

[، الموسوعة الفقهية الكويتية، ٢٥/١٦٠]

١٢-که یو څوک دسلام په تلفظ توان ولري او اواز يې هم رسېږي نو دسر یالاس په خوځولو سره سلام اچول او دسلام ځواب ورکول ورته مکروه(ناخوښه) دی.

(الموسوعة الفقهية الكويتية ٢٥ج/ ١٥٨ ص)

١٣-څوک چې دچا سلام بل چا ته وو ايي ځواب ورکوونکی به اول راوړونکي دسلام او بيا ويونکي دسلام ته داسې ځواب ورکوي:وعليكم وعليه السلام.

[المحيط البرهاني في الفقه النعماني، ٥/٣٢٩

١٤-سلام او د هغه ځواب په عجمی (بې‌عربي) ژبه هم لکه د عربي سلام او ځواب په شان دی،ځکه د سلام موخه د امن غوښتنه، د سلامتیا دعا، او درناوی څرګندول دي، او دا موخې په غیر عربي ژبه هم لکه په عربي ژبه پوره کېږي.

(الموسوعة الفقهية الكويتية، ٢٥/١٦٠)

١٥-دښځې سلام کول ښځې ته، داسې سنت دی لکه دسړو سړو ته.

(الموسوعة الفقهية الكويتية، ٢٥/١٦٦)

١٦-یوڅوک چې خپل خالي کور ته یا خالي مسجد ته ننوزي مستحب (ښه ده)ده چې

داسې ووايي: السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ . (الموسوعة الفقهية الكويتية،۲۵/۱۷۱)

۱۷-خپل کور ته چې داخلېږئ سلام کوئ. (الترمذی)

۱۸-سلام دې په دومره آواز وشي چې بل کس يې واوري، او ځواب دې هم په دومره آواز وشي چې سلام ورکوونکی يې واوري.(شمائل کبری، ٤/٥١١)

۱۹-که څوک کوم مجلس ته داخل شي او هلته ځانګړې خبرې رواني وي، نو په لوړ آواز دې سلام نه کوي.

(آداب المعاشرت، ص ٤٠)

۲۰-د سلام پر مهال دې څوک نه کړېږي یا نه ټيټېږي. (آداب المعاشرت، ص ٤٤)

۲۱-چې دفتنې وېره وي پردی نارینه دې پردیو ښځو ته، او پردی ښځې دې پردیو نارینهوو ته سلام نه کوي. (عمل اليوم والليلة، ابن السني، ص ٨٣)

۲۲-دعذر له وجې(لیریوالی،کاڼه ته سلام وي،)په اشاره (سر یالاس سره اشاره ...)سره له سلام کولو سره به دسلام الفاظ ویل کېږي.(الفتاوی الهندية ۵/۳۶۲

۲۳-که څوک په لیک یا پیغام کې ولیکي السلام علیکم، نو جواب يې هم په لیکلې بڼه واجب دی، (الدر المختار مع رد المحتار، ج ٦، ص ٤١٢)

۲٤-غیر مسلم سره د سلام په پیل کولو اجازه نشته،که هغوی سلام وکړي، ځواب دې په "وعليكم "سره ورکړل شي. (بدائع الصنائع، ج ٥، ص ۱۲۹(صحیح مسلم، حدیث: ۲۱۶۷ صحیح البخاري، حدیث: ٦٢٥٨

۲۵-پر تلاوت، ذکر ،دعا یا وظیفه مشغول کس ته سلام مه کوئ.

(جامع الفتاوی، ۳/۳۱۳)، (امداد الفتاوی، ٤/٢٧٨)

۲۶-پرعلمي کار کې مصروف کس ته سلام مه کوئ. (جامع الفتاوی، ۳/۳۱۳)

۲۷-که څوک د خوب لپاره پروت وي، نو سلام دې په دومره آواز وشي چې که ويښ وي ځواب ووايي، او که ويده وي نو بیدار نه شي. (جامع ترمذي، ۲/۹٦)

۲۸-د اذان پر مهال دې سلام نه کېږي. (جامع الفتاوی، ۳/۳۱۳)

۲۹-کله چې خلک لمونځ کوي سلام مه کوه! (صحيح البخاري ۱۲۰۰، صحیح مسلم ٥٣٨)

۳۰-په بيت الخلا (تشناب) کې سلام منعه ده. (سنن الترمذي ۹۰، سنن النسائي ٤١)

۳۱-یوه تن ته سلام کول دې د جمع (جمعیت) په لفظ وشي، لکه السلام عليكم.الدر المختار (٣٨١/٦)

۳۲-دمجلس په پای کې د رخصت پر وخت سلام اچول هم سنت دي.

(ترمذي (۲۷۰٦)، سنن أبي داود (٥٢٠٨)

۳۳-دوه نفره چې يوې خواته روان وي، هغه وروستنی کس چې ور ورسېږي مخکني ته به سلام اچوي.

[المحيط البرهاني في الفقه النعماني، ٥/٣٢٦]

## مصافحه:

۳٤-دسلام پر وخت مصافحه کول سنت دي. (مجمع الزوائد، ۸/۳٦)

۳۵-اول دې سلام، بیا مصافحه وشي؛ ځکه یوازې مصافحه (د سلام پرته) د سنت خلاف ده.

(مصنف ابن أبي شيبه، ٥/٢٤٨)

۳٦-دمصروفیت یا مشغولتیا په وخت کې مصافحه مه کوئ.

(آداب المعاشرت، ص٥٩)

۳۷-چې څوک ژرژر روان وي، هغه مه دروئ د مصافحې لپاره؛ چې ستونزه ورته پيدا نه شي.(آداب المعاشرت، ص ٤٨)

۳۸-که مجلس کې يو تن سره د لیدو نیت وي، یوازې له هغه سره مصافحه وکړئ؛ خو که له نورو هم پېژندګلوي وي، له ټولو سره مصافحه کول هم روا ده.

(آداب المعاشرت، ص ٤٨)

۳۹-مصافحه دې د لومړی لیدنې پر وخت یا د رخصتی پر وخت وشي.

(آداب المعاشرت، ص ٤٩)

٤٠-د مصافحې پر مهال دې د بل راحت ته پام وشي.(آداب المعاشرت، ص ٥٣)

٤١-غوره دا ده چې مصافحه په دواړو لاسونو وشي. (صحیح بخاري، ۲/۹۲٦)

والله اعلم باالصواب

ومن الله التوفيق.

# د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزیر د ټاپ نړیوالې پروژې له رئیس او د ترکمنستان هېواد له سفیر سره د ټاپ پروژې د بهیر د چټکتیا په هکله خبرې، اترې وکړې




د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، سه‌شنبه(د ۱٤٠٤ هـ . ل کال د تلې ١٥) د دغه وزارت د غونډو په تالار کې د ټاپ نړیوالې پروژې له رئیس ښاغلي مراد آرتیکوف او په کابل کې مېشت د ترکمنستان هېواد له سفیر ښاغلي خواجه عوضوف سره وکتل.

په دغه لیدنه کې، دواړو لورو د ټاپ برېښنا لېږد ( ترکمنستان – افغانستان – پاکستان) پروژې چارو د چټکتیا د بهیر په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه.

د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزیر د سیمې د هېوادونو لپاره د دغې پروژې پر حیاتي ارزښت باندې د ټینګار ترڅنګ، روښانه کړه چې د افغانستان اسلامي امارت د دغې پروژې د چارو د چټکتیا په برخه کې هر راز همکاري او د پلي‌کولو لپاره د زمینې چمتوکولو ته ژمن دی.

هغه زیاته کړه، چې د ټاپ پروژې د لار نقشې جوړونه د افغانستان اسلامي امارت له لورې تر څېړنې او بیاکتنې لاندې نیول شوې او د رهبرۍ مقام له لورې تر تائید وروسته به د لاسلیکولو لپاره چمتو شي.

په ورته مهال، د ټاپ نړیوالې پروژې رئیس ښاغلي مراد آرتیکوف د افغانستان دولت د همکارۍ په ستاینلو سره، د پروژې د پلي کولو په برخه کې د دریو واړو هېوادونو( ترکمنستان، افغانستان او پاکستان) د همغږۍ او چمتووالي په هکله خبر ورکړ او د لومړنیو عملي اقداماتو د چمتوکولو د بهیر پر چټکتیا باندې ټینګار وکړ.

د یادونې وړده، چې د ټاپ برېښنا لېږد نړیواله پروژه په سیمه کې یو له سترو او ستراتېژیکو طرح وو څخه ګڼل کېږي، چې موخه یې له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته د برېښنا انرژي لېږد ده.

پروژه د غړو هېوادونو لپاره د دوامدار او ارزانه انرژۍ د چمتوکولو برسېره، د اقتصادي پراختیا لپاره د زمینې چمتوکولو، د کارموندنې فرصتونو رامنځته کولو، د سیمه ایزو همکاریو د پراخولو او د ښکېلو هېوادونو ترمنځ به د اقتصادي او سیاسي اړیکو د ټینګولو لامل هم شي.

## فاریاب ولایت کې د اجریم غلبلي چکډم جوړولو چارې د نږدې ۵ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې

د فاریاب ولایت په المار ولسوالي کې د اجریم غلبلي چکډم جوړولو چارې د ٤ میلیونه، ٦٢٢ زره او ٧٩٠ افغانیو په لګښت د فاریاب د اوبو او انرژي رئیس محترم مولوي محي الدین مبارز، د المار ولسوال او قومي مشرانو په شتون کې پیل شوې.

نوموړی چکډم د ٧٠ متره په اوږدوالي او د ٥.٩ متره په لوړوالي سره د اوبو او انرژي وزارت له پراختیایي بودجې څخه د فاریاب د اوبو او انرژي ریاست تر څارنې لاندې د اوبو د زېرمه کولو او د ځمکې لاندې اوبو د پیاوړتیا په موخه جوړېږي.

## پروژه اعمار دیوار استنادی یک استیشن هایدرومیتیورولوژی در ولایت فاریاب با هزینه نزدیک به دو میلیون افغانی آغاز شد

پروژه اعمار دیوار استنادی استیشن هایدرومیتیورولوژیکی ینگی زرغوی در ولسوالی قیصار ولایت فاریاب با هزینه ١ میلیون و ٨٩٧ هزارو ٩٠٠ افغانی با حضور مسئولین ریاست آب و انرژی فاریاب و متنفذین قومی آغاز گردید.

دیوار استنادی استیشن متذکره به طول ١١٩,٤٠ متر، عرض ٢ متر، ارتفاع ٣,٣٠ متر از بودجه انکشافی وزارت آب و انرژی تحت نظارت ریاست آب و انرژی فاریاب اعمار می‌گردد.

## یک شبکه آبرسانی در ولایت غور به بهره برداری سپرده شد

در ولسوالی چهارسده ولایت غور، یک شبکه آبرسانی به هزینه مجموعی( ١٣٨٧٣٢٤٣ سیزده میلیون هشت صد هفتاد سه هزارو دو صدو چهل و سه افغانی از بودجه وزارت آب و انرژی تکمیل و با حضور نماینده مقام ولایت، نمایندگان وزارت آب و انرژی، مسئولان ریاست آب و انرژی غور و شماری از باشندگان محل، به بهره برداری سپرده شد

## وزیر آب و انرژی در سمینار اصلاحی و تربیوی دعوت و ارشاد این وزارت، مسئولین و کارمندان را به مسئولیت پذیری، اخلاص و اطاعت تشویق نمود



سمینار اصلاحی و تربیوی دعوت و ارشاد با حضور محترم الحاج ملا عبداللطیف "منصور" وزیر آب و انرژی، مجیب الرحمن عمر "آخندزاده" معین آب، مشاورین، روئسا و کارمندان این وزارت، به روز سه شنبه( ۸ میزان ١٤٠٤هـ ش) در تالار عمومی کنفرانس های وزارت برگزار گردید.

در این سمینار وزیر آب و انرژی زندگی دنیوی را زمینه کشت اعمال صالح برای آخرت و دارالاسباب خوانده به تمام مسئولین و کارمندان سفارش نمود که در تمام امورات زندگی خویش ایمانداری، صداقت، اخلاص و رعایت موازین شرعی را در نظرداشته باشند تا به سعادتمندی دنیا و آخرت دست یابند.

ایشان در صحبت های خویش هدف از فرامین مقام رهبری امارت اسلامی به ویژه در زمینه ارشادات دینی را خیر و صلاح جامعه عنوان نموده اشتراک کنندگان را تشویق نمود تا از این فرامین به صورت کامل اطاعت نمایند.

وی علاوه کرد که دشمنان اسلام مدت های زیادی هم در دوران اشغال روس ها و هم در دوران اشغال آمریکا و متحدانش، هدفمندانه برای تخریب اسلام در افغانستان تلاش ورزیده و اثرات مخرب زیادی را در این راستا به وجود آورده است به همین خاطر جهت ازبین بردن این اثرات منفی در جامعه، امربه معروف، نهی از منکر و سایر برنامه های ارشادی از نیاز های اساسی جامعه به شمار می رود.

آقای منصور، ترحم، شفقت، بخشش و نیکی را از ویژگی های سیاست اسلامی خوانده از تمام مسئولین و کارمندان این وزارت خواست که در تمام امورات دنیوی و اخروی خویش مطابق به آموزه های دینی و شریعت اسلامی عمل نمایند.

از سوی هم قاری محمد عبدالعزیز "عزیز" رئیس عمومی دفتر وزارت آب و انرژی و مولوی گل رحمن "عارف" رئیس دعوت وارشاد این وزارت در این سمینار پیرامون ضرورت، اهمیت و افادیت دعوت و ارشاد، امربالمعروف و نهی عنی المنکر و اهمیت ذکر درود شریف با استناد به آیات و روایات صحبت نموده هدف از برگزاری این مجالس را، بیداری روح و افزایش آگاهی معنوی عنوان نمودند.

این سمینار با دعای خیر و آرزوی موفقیت جوامع اسلامی به ویژه ملت مظلوم فلسطین به پایان رسید.

### پنجشیر ولایت کې د غلبک سیند څنډو د تینګښت پروژه د نږدې یو نیم میلیون افغانیو په لګښت پیل شوه

١٤٠٤/٧/١٦

د پنجشیر ولایت په عنابه ولسوالي کې د غلبک(آبدره) سیند څنډو د تینګښت پروژه د ١ میلیون، ٤١٨ زره او ٣٥٩ افغانیو په لګښت د پنجشیر د اوبو او انرژي رئیس محترم مولوي فضل الله عادل، قومي مشرانو او د قراردادي شرکت د مسؤلینو په شتون کې پیل شوه.

د پنجشیر د اوبو او انرژي رئیس د دغې پروژې په پرانیست غونډه کې د اوبو او انرژي وزارت له رهبري څخه په دغه ولایت کې د پراختیايي پروژو د پلي کولو له کبله مننه وکړه او خلکو ته یې د ربښتیني خدمت ژمنه وکړه.

د دغې پروژې چارې د اوبو او انرژي وزارت له پراختیايي بودجې څخه د پنجشیر د اوبو او انرژي ریاست تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې په غلبک کلي کې لسګونه جریبه کرنیزې ځمکې، میوه لرونکي ونې او د اوبو لګولو یو کانال د موسمي سیلابونو له ګواښونو څخه خوندي شي.

### پروژه یک چکدم در ولایت زابل با هزینه ۳ میلیون افغانی به بهره برداری سپرده شد

پروژه یک چکدم در قریه گزک ولسوالی خاک افغان ولایت زابل با هزینه ۳ میلیون و ١٦٤ هزارو ٥٢٠ افغانی تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

با به بهره سپردن پروژه متذکره آب‌های زیرزمینی تقویه، تهدید سیلاب‌ها کنترول و موجب محافظت دائمی منابع آب خواهد شد.

کار این پروژه با هزینه مالی موسسه یو، این، دی،پی تحت نظارت ریاست آب و انرژی زابل به پیشبرده می‌شد.

## د اوبو او انرژي وزير د ارزګان ولايت له مشرانو سره د آغاجان بند او په هغه ولايت کې د نورو پراختيايي پروژو په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه

۱۴۰۴/۷/۶



د اوبو او انرژي وزير محترم الحاج ملا عبداللطيف منصور د دغه وزارت د غونډو په تالار کې د ارزګان ولايت له مشرانو سره په داسې حال کې چې محترم حمزه صاحب د امنيي قوماندان او د رياست الوزرا اقتصادي معاونيت استازی محترم ملا عبدالله هم شتون درلود، وکتل.

په دغه ليدنه کې، په ارزګان ولايت کې د اوبو او انرژي پراختيايي پروژو په ځانګړې توګه د شفلوغ او آغاجان بندونو د پروژو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د ارزګان ولايت مشرانو د هغه ولايت د خلکو ستونزې او وړانديزونه د اوبو او انرژي وزارت له رهبري مقام سره شريک کړل او د آغاجان بند د جوړولو پروژې د پيل غوښتنه وکړه.

د اوبو او انرژي وزير هغوی ته ډاډ ورکړ، چې د شفلوغ بند چارې په ښه توګه رواني دي او د آغاجان بند د ودانی عملي چارې به هم د تخنيکي مطالعاتو له ترسره کېدو وروسته، شته امکاناتو ته په کتو سره د دغه وزارت له لوري پيل شي.

## جلسه تخنیکی هفته‌وار معینیت آب در مورد بررسی اسناد تخنیکی و تقنینی و ترتیب لیست پروژه‌های انکشافی آینده تدویر یافت

این جلسه به روز پنجشنبه ۲۴ میزان ۱۴۰۴ هـ ش تحت ریاست محترم مجیب‌الرحمن عمر آخندزاده، معین آب، با حضور رؤسا، مشاورین و مسئولین تخنیکی این معینیت برگزار گردید.

در آغاز جلسه، روی ارائه گزارش مختصر اسناد تخنیکی و تقنینی تدوین‌شده بحث صورت گرفت. مسئولین مربوطه معلومات همه‌جانبه در مورد اسناد متذکره ارائه نموده و نظریات خویش را در زمینه بهبود و تطبیق بهتر آن‌ها شریک ساختند.

در ادامه، موضوع ترتیب لیست پروژه‌های انکشافی آب برای پنج سال آینده مورد بررسی قرار گرفته تأکید به عمل آمد تا پروژه‌ها مطابق اولویت‌های ملی، نیازمندی‌های ساحوی و اهداف استراتژیک وزارت آب و انرژی ترتیب گردند.محترم معین آب ضمن استماع نظریات و پیشنهادات اشتراک‌کنندگان، بر هماهنگی میان ریاست‌ها، استفاده مؤثر از اسناد تخنیکی و تقنینی، و برنامه‌ریزی دقیق برای پروژه‌های انکشافی آینده تأکید نمود.

## پروژه تحکیم سواحل دریای نجراب ولایت کاپیسا با هزینه نزدیک به دومیلیون افغانی آغاز گردید

پروژه تحکیم سواحل دریای نجراب در قریه جورغل ولسوالی نجراب ولایت کاپیسا با هزینه ۱ میلیون و ۷۰۰ هزار افغانی با حضور مسئولین ریاست آب و انرژی کاپیسا، محترم مولوی مقدس احمدی، معاون ولسوال ولسوالی مذکور و متنفذین قومی آغاز شد.

کار پروژه مذکور از بودجه انکشافی وزارت آب و انرژی تحت نظارت ریاست آب و انرژی کاپیسا به پیشبرده می‌شود که با تکمیل شدن کار آن، خانه‌های مسکونی، زمین‌های زراعتی و اشجار مثمر و غیر مثمر از خطرات سیلاب‌ها محفوظ خواهد شد.

از سویی هم، مسئولین ریاست آب و انرژی کاپیسا از جریان کار ترمیم و بازسازی استیشن هایدرولوژی قریه شوخی نظارت نموده و به مسئولین ذیربط جهت پیشبرد بهتر امور هدایات لازم را داد.

## د سمنګان ولايت د مرکز ايبک کهنه کانال د تحکيماتي دېوال د ترميم پروژه ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه

د سمنګان ولايت د مرکز ايبک کهنه کانال د تحکيماتي دېوال د ترميم پروژه د سمنګان د اوبو او انرژي رئيس محترم مولوي محب الله عادل او ورسره مل ټيم په شتون کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

نوموړې پروژه د سيمې د خلکو په مالي لګښت د سمنګان د اوبو او انرژي رياست تر څارنې لاندې پلې شوه.

نوموړی کانال د ۲۲ کيلو متره اوږدوالي په درلودلو سره په سمنګان ولايت کې تر ټولو لوی کانال ګڼل کېږي، چې د ٦ زره جريبه ځمکې د خړوبولو وړتيا لري او ګڼې کورنۍ ورڅخه ګټه پورته کوي.

## مسئولان تخنیکی وزارت آب و انرژی و شرکت عزیزی گروپ طی نشستی با حضور وزیر آب و انرژی، گزارش فعالیت‌ها و پیشرفت‌های خویش را ارائه کردند.




این نشست روز یک شنبه (٦ میزان ١٤٠٤ هـ.ش) با حضور محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، وزیر آب و انرژی، شماری از رؤسای این وزارت و مسئولان تخنیکی شرکت عزیزی گروپ در تالار جلسات مقام وزارت برگزار شد.

در جریان جلسه، فعالیت‌ها و دستاوردهای هر دو جانب در زمینه پیشبرد امور سرمایه‌گذاری بر پروژه‌های تولید، توسعه و انتقال انرژی مورد بررسی قرار گرفت. همچنان روی موضوعاتی چون انسجام و هماهنگی بیشتر امور، اولویت‌بندی پروژه‌ها، تبادل اطلاعات، ترتیب پلان عملیاتی، برگزاری جلسات گزارش‌دهی و هماهنگی با سایر نهادهای ذیربط بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

وزیر آب و انرژی با تأکید بر تسریع روند کارها، از هرگونه همکاری لازم به مسئولان شرکت عزیزی گروپ اطمینان داد و سرمایه‌گذاری این شرکت در عرصه رشد و انکشاف انرژی کشور را گام حیاتی عنوان کرد.

از سوی دیگر، مسئولان شرکت عزیزی گروپ با ستایش از هماهنگی‌ها و همکاری‌های مشترک، عزم و آمادگی خویش را برای تسریع امور ابراز داشتند.

قابل یادآوری است که‌شرکت عزیزی گروپ پیش‌تر با وزارت آب و انرژی به تفاهم‌رسیده است تا در زمینه تولید، توسعه و انتقال ده‌هزار میگاوات انرژی در کشور سرمایه‌گذاری نماید

### خوست ولایت کې د ۸ کارېزونو د پاک کاري او بیارغولو چارې د څه باندې ٦٤ زره امریکايي ډالرو په لګښت پیل شوې

د خوست ولایت مرکز او صبريو ولسوالي اړوند د ۸ کارېزونو د پاک کاري او بیارغولو چارې د خوست د اوبو او انرژي رئیس الحاج مولوي عبدالقیوم ثابت، د یونیسکو نړیوالې مؤسسې مسؤولینو، علماء کرامو، قومي مشرانو او ځوانانو په شتون کې پیل شوې.

د نوموړو کارېزونو د پاک کاري او بیارغولو چارې د ٦٤ زره او ٤٢٠ امریکايي ډالرو په لګښت د یونیسکو نړیوالې مؤسسې په مالي ملاتړ د خوست د اوبو او انرژي ریاست تر څارنې لاندې ترسره کېږي چې ودانیزې چارې یې د ایکو مؤسسې لخوا پرمخ وړل کېږي.

د یادولو وړ ده چې د نوموړو کارېزونو چارې به د ۳ میاشتو په موده کې بشپړې شي او په بشپړېدو سره به یې د اړوندو سیمو سلګونه جریبه ځمکې خړوبې شي او د ځایي اوسېدونکو په ژوند او اقتصاد کې د پام وړ مثبت بدلونونه رامنځ ته شي

### اعمار و پاک‌کاری چهار کانال در ولایت فاریاب با هزینه بیش از ۱۵۰ هزار دالر آمریکایی تکمیل گردید

پروژه اعمار و پاک‌کاری کانال‌های قره شیخی، خواجه سبز پوش، جانقره و جرقلعه در ولسوالی‌های خواجه سبز پوش و شیرین تگاب ولایت فاریاب با هزینه ۱۵۳ هزار دالر آمریکایی تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

اعمار و پاک‌کاری کانال‌های مذکور به هدف آبیاری زمین‌های زراعتی، جلوگیری از زیان‌های احتمالی سیلاب‌ها و جریان آب صورت گرفت.

پروژه متذکره با هزینه مالی موسسه ایف‌ای، او تحت نظارت ریاست آب و انرژی فاریاب تطبیق گردید.

## د اوبو او انرژي وزير صاحب د انرژي اونۍ نړيوال فورم کې د گډون لپاره روسي فدراسیون ته په سفر ولاړ

د ۱٤۰٤ کال د تلې په ۲۱ نېټه د افغانستان د اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزير محترم الحاج ملا عبداللطيف منصور د روسيې د انرژي د اونۍ نړيوال فورم کې د گډون لپاره د روسيې فدراسيون ته په سفر ولاړ.

د سفر موخه د روسيې د انرژي د اونۍ نړيوال فورم کې د گډون ترڅنگ، د انرژي او اوبو سکتورونو په برخه کې د متقابلو همکاريو د پراختيا، تجربو د تبادلې، او د افغانستان د انرژي سکتور د ورتياوو د معرفي کولو لپاره د کوربه او گډون کوونکو هېوادونو له چارواکو سره د ليدنو ترسره کول دي.

دغه سفر د افغانستان د اوبو او انرژي وزارت لپاره يو مهم گام بلل کېږي، ځکه د انرژي نړيوال فورم د سيمې او نړۍ د هېوادونو ترمنځ د همکارۍ،




پانگونې، او د انرژۍ د پايداره پراختيا په اړه د نظرونو د تبادلې مهم فرصت برابروي.

ان شاء الله د وزير صاحب دا سفر به د افغانستان د انرژي سکتور د پرمختگ، نړيوالو همکاريو، او د نوو پروژو د جلب په برخه کې مثبتې لاسته راوړنې ولري

## وزیر آب و انرژی امارت اسلامی افغانستان با سفیر امارت اسلامی افغانستان در مسکور دیدار نمود



محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، وزیر آب و انرژی امارت اسلامی افغانستان که جهت اشتراک در فورم هفته انرژی روسیه به مسکو رفته، با محترم مولوی گل حسن حسن، سفیر امارت اسلامی افغانستان در محوطه سفارت دیدار کرد.

در این دیدار، هر دو جانب پیرامون احترام متقابل و تقویت همکاری و ارتباطات دو جانبه میان افغانستان و روسیه گفتوگو نمود. وزیر صاحب از خدمات و تلاش‌های مسئولین سفارت قدردانی نموده و برای‌شان آرزوی موفقیت نمود.

محترم مولوی گل حسن حسن، سفیر امارت اسلامی افغانستان در مسکو از دستاوردهای وزارت یاد آوری نموده اظهار کرد که همکاری های بین المللی گام مهم در توسعه منابع طبیعی و انرژی افغانستان است.

### غور ولایت کې د يوه چکډم پروژه د څه باندې ۹ ميلیونه افغانيو په لگښت بشپړه او گټې اخيستنې ته وسپارل شوه

د غور ولايت په دولينه ولسوالي کې د تربولاق زيرتنگی چکډم پروژه د ۹ ميليونه، ۱۰۵ زره او ٤۷۳ افغانيو په لگښت بشپړه او د غور د اوبو او انرژي رئيس محترم ملا رحمت الله اماني، د هريرود- مرغاب عمومي حوزوي رياست د سلاکار محترم انجنير سيد حسن فضلي، د غور ولايت مقام د استازي او يو شمېر نورو سيمه ايزو مسؤلينو په شتون کې گټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

ښاغلي اماني د نوموړې پروژې گټې ته د سپارلو په مراسمو کې د اوبو د ارزښت او سيما په هکله خبرې وکړې او د دغې پروژې له گټې اخيستونکو څخه غوښتنه وکړه، چې ورڅخه په سمه توگه گټه پورته او بنستيز مراقبت يې وکړي.

د نوموړي چکډم زيرمه ايزه ورتيا ٦٥۰۰ متره مکعب ده،چې د اوبو د ضايعاتو د مخنيوي او د موسمي او دايمي اوبو د راټولولو په موخه جوړ شوی دی.

دغه چکډم د اوبو او انرژي وزارت له پراختيايي بودجې څخه د غور د اوبو او انرژي رياست تر څارنې لاندې جوړی شوی، چې په نوموړې ولسوالي کې به د اوبو د کموالي ستونزې د هواريدو لامل شي.

### پروژه چکدم سیوک علیا در ولایت بامیان با هزینه بیش از دو میلیون افغانی تکمیل گردید

پروژه چکدم سیوک علیا در ولسوالی ورس ولایت بامیان با هزینه ۲ میلیون ۲٤٥ هزارو ۷۷٤ اعشاریه ٤ افغانی تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

چکدم مذکور به طول ۳۱ متر و ارتفاع ۷ متر جهت تغذیه آب‌های زیرزمینی، کنترول و مهار سیلاب ها و جمع آوری آب‌های فصلی اعمار گردیده است.

از این پروژه ۳۰ فامیل مستفید می گردد و حدود ٤۰ جریب زمین زراعتی تحت آبیاری قرار خواهد گرفت.

## نماینده سفارت روسیه مقیم کابل و مسئولان سه‌شرکت معتبر روسی آمادگی خویش را برای سرمایه‌گذاری در پروژه‌های آب و انرژی افغانستان اعلام نمودند.



چهارشنبه ۲۳ میزان ۱۴۰۴ هـ.ش، محترم الحاج ملا عبدالهادی یعقوب، معین انرژی وزارت آب و انرژی، همراه با شماری از رؤسای تخنیکی این وزارت، در تالار جلسات معینیت انرژی، با نماینده سفارت روسیه در کابل و تعدادی از مسؤلان‌شرکت‌های فعال روسی در سکتورهای آب و انرژی دیدار و گفتگو نمود.

در این دیدار، نماینده سفارت روسیه و مسئولان شرکت‌های روسی ضمن ابراز علاقه‌مندی خویش به سرمایه‌گذاری در پروژه‌های زیربنایی افغانستان، به‌ویژه در بخش‌های انتقال آب، اعمار بندهای آبی و تولید برق، بر آمادگی کامل کشور خویش برای همکاری در این زمینه‌ها تأکید ورزیدند. آنان پروژه انتقال آب از پنجشیر به کابل را از جمله طرح‌های مهم و حیاتی عنوان کرده، علاقه‌مندی جدی خود را برای سهم‌گیری در تطبیق آن ابراز داشتند.

در مقابل، محترم معین انرژی و رؤسای تخنیکی وزارت، ضمن استقبال از این تصمیم و تمایل طرف روسی، معلومات کلی پیرامون پروژه‌های یادشده را با آنان شریک ساختند و اطمینان دادند که وزارت آب و انرژی آماده هرگونه همکاری تخنیکی و تسهیل روندهای مرتبط با سرمایه‌گذاری در این بخش‌ها می‌باشد.

معین انرژی و روئسای تخنیکی وزارت یادآور شد که در شرایط کنونی، افغانستان از منابع طبیعی فراوان و فرصت‌های مناسب برای سرمایه‌گذاری برخوردار است و امارت اسلامی افغانستان نیز از هر اقدام مثبت در جهت رشد و توسعه سکتور آب و انرژی استقبال کرده، همکاری‌های لازم را در این راستا انجام خواهد داد.

در پایان، هر دو جانب بر گسترش روابط و هماهنگی بیشتر میان نهادهای ذیربط تأکید ورزیده توافق نمودند که به منظور تسریع در پیشبرد امور، جلسات تخنیکی مشترک میان دو طرف در آینده نزدیک برگزار گردد تا زمینه همکاری‌های عملی و مؤثر بیش از پیش فراهم گردد.

## خوست ولایت کې د ۳۸ پروژو چارې د ۱۲۰میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې

د خوست ولایت د مرکز او په سپیرې، تني، ګربز، علیشیر او ځاځي میدان ولسوالیو کې د ۳۸ پروژو چارې، چې ۲۳ یې د خوست د اوبو او انرژي ریاست اړوند دي، د ۱۲۰ میلیونه افغانیو په لګښت د قومونو او قبایلو وزارت چارو معین محترم الحاج مولوي محمد اسمعیل غزنوي، د خوست مرستیال والي محترم مولوي محبوب شاه قانت، د خوست د اوبو او انرژي رئیس محترم مولوي عبدالقیوم ثابت او یو شمېر نورو سیمه ایزو مسؤلینو په شتون کې پیل شوې.

په دغو پروژو کې د اوبو رسولو ۲۰ پروژې، د یوه کانال ترمیم، د یوه استنادي دېوال او ۲ سربندونو د ترمیم، د سرک جغل اندازي، د ۳ جوماتونو او ۱۰ مدرسو او ښوونځیو جوړولو پروژې شاملې دي.
د نومړو پروژو چارې به د څلورو میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي، چې ګټې ته په سپارلو سره به یې سلګونو کورنیو ته د پاکو اوبو رسولو آسانتیاوو چمتو کېدو ترڅنګ، زرګونه جریبه ځمکې خړوبې شي.

## پروژه پاک‌کاری و ترمیم ۱۰ کاریز در ولایت غزنی با هزینه بیش از ٦ میلیون افغانی تکمیل گردید

پروژه پاک‌کاری و ترمیم کاریزهای قلعه خانمود، قلعه فتح، قلعه کهنه، چهاردیوال، شیخو، جلال، گوگرد، تورمه، سرخ تالا و خشکک در ولسوالی‌های واغظ و زنخان ولایت غزنی با هزینه ٦ میلیون و ٦۹ هزارو ۲۷۲ افغانی تکمیل شد.

با تکمیل شدن کار پروژه متذکره آب در کاریزها بیشتر شده که مشکلات مردم در بخش آب حل خواهد شد.

در پروژه مذکور برای ۵۳۰۰ نفر زمینه کار مساعد شده بود، که کار آن با هزینه مالی موسسه یونیسکو تحت نظارت ریاست آب و انرژی غزنی به پیشبرده می‌شد.

# د اوبو او انرژي په سکتورونو کې د پانګونې فرصتونو د پېژندنې ناسته ترسره شوه




د اوبو او انرژي په سترو پروژو کې د پانګونې فرصتونو د پېژندنې ناسته، د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده، د کورنیو او بهرنیو ودانیزو شرکتونو د رئیسانو او استازو په شتون کې، د ۱٤٠٤ هـ ل کال د تلې د میاشتې په ۳۰ نېټه د اوبو معینیت د غونډو په تالار کې ترسره شوه.

د ناستې په پیل کې، د اوبو محترم معین په خپلو خبرو کې په اوسنیو شرایطو کې د هېواد د اوبو سرچینو د مدیریت حیاتي ارزښت ته اشاره وکړه او یې ویل، چې له بده مرغه د افغانستان اوبیزې سرچینې په پرله پسې کلونو کې د ځلورو لسیزو تپل شوو جګړو، اقلیمي بدلونونو او پرله پسي وچکالیو له کبله زیانمنې شوې دي. هغه زیاته کړه، چې اوسمهال د هېواد ډېری خلک پاکو اوبو ته لاسرسی نه‌لري او څه باندې اووه میلیونه هکتاره کرنیزه ځمکه د اوبو د کموالي له کبله د ګټې اخیستنې وړ نه‌ده.

ښاغلي آخندزاده ټینګار وکړ، چې د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزارت د اوبو د اغېزمن مدیریت او د انرژي د پراختیا په برخه کې ارښتناکه لاسته راوړنې لري، خو د دغو دوو سکتورونو ورځ تر بلې ارزښت ته په کتو، یوازې د وزارت هڅې کافي نه‌دي او اړتیا ده، چې خصوصي او دولتي سکتورونه دواړه په دې برخه کې کارنده ونډه واخلي.

هغه د اوبو او انرژي په پروژو کې پانګونې ته د خصوصي سکتور استازو د هڅولو ترڅنګ، یادونه وکړه چې اوسمهال په افغانستان کې د پانګونې لپاره زمینه چمتو شوې او اسلامي امارت هم په دې برخه کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته اړینې آسانتیاوې چمتو کړې دي.

د ناستې په دوام کې، د اوبو او برېښنا بندونو سترې پروژې او د وزارت نورې بنسټیزې پروژې د یوه تفصیلي پریزنټیشن له لارې وړاندې شوې، ترڅو شرکتونه وکولای شي د خپلې لېوالتیا سره سم د پروژو د مطالعې، ډیزاین او پلي کولو په برخه کې پانګونه وکړي.

په ورته مهال، د کورنیو او بهرنیوشرکتونو استازو هم د خپلو فعالیتونو، طرحو او وړاندیزونو په هکله د معلوماتو وړاندې کولو ترڅنګ، د اوبو او انرژي په سکتورونو کې د خپلې همکارۍ او پانګونې لېوالتیا څرګنده کړه.

د ناستې په پای کې، د اوبو او انرژي وزارت او خصوصي سکتور ترمنځ د متقابلو همکاریو پر پراختیا باندې ټینګار وشو او تصمیم ونیول شو، چې راتلونکې ناستې د تخنیکي جزئیاتو د څېړلو او په نومړو پروژو کې د پانګونې لپاره د عملي زمینې د چمتوکولو په موخه ترسره شي.

## کار اعمار یک دیوار استنادی در ولایت نورستان با هزینه نزدیک به چهار میلیون افغانی آغاز گردید

کار اعمار یک دیوار استنادی در منطقه بلیک ولسوالی نورگرام ولایت نورستان با هزینه ۳میلیون و ۸۰۰ هزار افغانی با حضور محترم مولوی محمد علی فاروقی، رئیس آب و انرژی نورستان، ولسوال ولسوالی مذکور و متنفذین قومی آغاز شد.

دیوار استنای مذکور از بودجه انکشافی امارت اسلامی تحت نظارت ریاست آب و انرژی نورستان به طول ۱٤٠ متر و ارتفاع ٥ متر اعمار می‌گردد.

## سمنګان ولایت کې د اوبو په برخه کې درې پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د سمنګان ولایت د مرکز، ایبک اړوند د تسمې چکرم، د ظهرابي کانال د محافظتي دېوال او په بنسټیز ډول د ۲۲ متره د ترمیم پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

نوموړی چکډم د ۱۳ متره اوږدوالي په درلودلو سره د ٤٠٠٠ متره مکعب اوبو په وړتیا جوړ شوی او د نوموړي کانال محافظتي دېوال د ۱۲ متره او ترمیم یې د ۲۲ متره په اوږدوالي سره ترسره شوی، چې ۲۲ زره او ۵۰۰ کسان ورڅخه ګټه پورته کوي.

نوموړې پروژې د اکتید موسسې په مالي لګښت د سمنګان د اوبو او انرژي ریاست په همغږۍ سره پلې شوې دي.

## جوزجان ولایت کې د یوه چکډم جوړونې پروژې چارې پیل شوې

د جوزجان ولایت د فیض آباد ولسوالي د کوهستاناتو اولدي چشمي کلي د چکډم جوړونې پروژې چارې د جوزجان د اوبو او انرژي رئیس محترم مولوي احمدشاه احمدي، د نوموړې ولسوالي د مرستیال ولسوال او د سیمې د اوسېدونکو په شتون کې پیل شوې.

نوموړی چکډم د اوبو او انرژي وزارت له پراختیایي بودجې څخه جوړېږي او چارې به یې د دریبو میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

# په ۲۰۲٤ کال کې د نړیوالو شنو خونو ګازونو د خپرېدو د کموالي لپاره هڅې:

## روان بهیرونه ، اغېزې او د افغانستان لپاره درسونه

چمتوکوونکی: انجنیر مسعود امانزی

په ۲۰۲٤ کال کې د نړیوالو شنو خونو ګازونو (GHG) د خپرېدلو یا اخراج (emissions) خپل اوږد مهاله د لوړېدونکي بهیر پر لور روان پاتې شو او بې ساري کچې ته ورسېد، چې ټولټال ۵۳.۲ ګیګا ټنه $CO_2eq$ له LULUCF یعنې ځمکه کارونه، د ځمکې کارونې بدلونونه، او ځنګلدارۍ پرته ثبت شوي دي. دا شمېر د ۲۰۲۳ کال په پرتله ۱.۳٪ زیاتوالی څرګندوي او هغه دوامداره نړیواله ننګونه په ګوته کوي چې نړۍ یې د اقتصادي ودې او د انرژۍ د مخ په پراخېدو غوښتنې تر سیورې لاندې د انرژۍ د بې کاربنه کولو په برخه کې ورسره مخ ده.

| Year | GHG emissions Mt $CO_2eq/yr$ | GHG emissions per capita t $CO_2eq/cap/yr$ | GHG emissions per unit of GDP PPP t $CO_2eq/kUSD/yr$ | Population |
|---|---|---|---|---|
| 2024 | 53206.401 | 6.562 | 0.308 | 8.109G |
| 2015 | 48451.421 | 6.564 | 0.366 | 7.381G |
| 2005 | 40919.625 | 6.256 | 0.434 | 6.540G |
| 1990 | 32249.867 | 6.051 | 0.538 | 5.330G |

د دغو نړیوالو بدلونونو درک کول د افغانستان لپاره حیاتي اهمیت لري، ځو خپلې ملي تګلارې د انرژۍ په پلان جوړونه، اقلیمي مقاومت او پایدارې ودې کې لا پیاوړې کړي.

### ۱-د نړیوالو شنو خونو د ګازونو د اخراج رجحانات (Trends) ۱۹۹۰–۲۰۲٤م

له ۱۹۹۰م کال راهیسې د شنو خونو د ګازونو نړیوالې خپرونې په پرله پسې توګه لوړېږي، یوازې د ۲۰۰۹م نړیوال مالي کړکېچ او د ۲۰۲۰م د کرونا وبا یې بهیر لنډ مهاله ودرولو. د دې لوړوالي اصلي لاملونه په چټک پرمختګ کوونکو هېوادونو لکه چین، هند او او یو شمېر په چټک ډول وده کوونکي نوې اقتصادونو کې د فوسیلي سون توکو له امله د $CO_2$ خپرېدلو زیاتوالی دی.

په ۲۰۲٤م کال کې:

- فوسیلي $CO_2$ د نړیوالوخپرېدل یا اخراجاتو ۷۴.۵٪ جوړول.
- د فوسیلي $CO_2$ نړیوال اخراج د ۱۹۹۰م کال په پرتله ۷۵٪ زیات و.
- د- $CH_4$ (میتهان) اخراج د همدې مودې په جریان کې ۳۰٪ او د $N_2O$ (نایترس آکساید) اخراج ۳٤٪ لوړ شوی دی.
- د- F ګازونو اخراج له څلور چنده ډېر زیات شوی (۳۱۰٪)

دا اوږد مهاله چټکتیا په ټینګار سره ښیي چې د نړیوالو انرژۍ سیستمونو په جوړښتي بدلونونو، د نوي کېدونکو انرژیو په پانګونه کې د پراخوالي، او د پالیسیو په لا قوي ژمنتیا کې ژور بدلونونه څومره مهم دي.

### ۲-د نړیوالو شنو خونو ګازونو د خپرېدو د سکتوري بدلونونو او رجحاناتو (۱۹۹۰–۲۰۲٤م)

د ۲۰۲٤ کال د ۱۹۹۰، ۲۰۰۵ او ۲۰۲۳م سره د پرتله کولو پایلې د سکتورونو تر منځ مهم توپیرونه څرګندوي:



**د برېښنا سکتور:** له ۱۹۹۰م کال راهيسې اخراجات ۱۰٤٪ زيات شوي، له ۲۰۰۵م کال راهيسې ٤۱٪ لوړ شوي، او له ۲۰۲۳م کال راهيسې نور ۲٪ زيات شوي، چې دا د سکرو او ګاز پر بنسټ برېښنا توليد باندې د نړۍ دوامداره تکيه څرګندوي.

**صنعتي سوځونه او توليدي بهيرونه:** اخراجات د ۱۹۹۰–۲۰۲٤م کلونو په اوږدو کې ۹۳٪ او د ۲۰۰۵–۲۰۲٤م کلونو په موده کې ٤۳٪ زيات شوي، چې دليل يې د نوښتګرو اقتصادونو په صنعتي او توکي توليدي فعاليتونو کې پراختيا ده.

**د ودانيو سکتور:** يوازيني لوی سکتور دی چې اوږدمهاله کموالی لري، د ۱۹۹۰م په پرتله ٤٪ ټيټوالی،

خو له ۲۰۲۳م څخه ۱٪ اخراجات زياتوالی لري.

**ترانسپورت:** اخراجات د ۱۹۹۰م کال په پرتله ۷۹٪ لوړ شوي، چې د موټرو د زياتوالي او د هوايي سفر د پراختيا څرګندونه کوي. د ترانسپورت سکتور له ۲۰۰۵م راهيسې ۲۷٪ او له ۲۰۲۳ کال راهيسې ۱٪ وده کړې ده.

**د سون توکو استخراج:** اخراجات له ۱۹۹۰ کال راهيسې ۵۲٪، له ۲۰۰۵م کال راهيسې ۲٦٪، او له تېر کال راهيسې ۲٪ زيات شوي، چې دا د فوسيل سونګ د استخراج پر دوامداره فعاليتونو دلالت کوي.

**کرنه او کثافات:** له ۱۹۹۰م کال راهيسې په ترتيب سره ۲۵٪ او ٤٦٪ معتدله وده ښيي، خو د ۲۰۲۳م کال په پرتله ثابته پاتې شوې ده.

په ټوله کې، ټول سکتورونه له ۱۹۹۰م څخه تر ۲۰۲٤م پورې ٦۵٪ او د ۲۰۰۵ راهيسې ۳۰٪ زيات شوي، او د ۲۰۲۳–۲۰۲٤م تر منځ بيا ۱٪ زياتوالی ليدل کېږي.

**۳-د نړۍ لوی اخراجوونکي يا خپروونکي (Top Global Emitters):**

په ۲۰۲٤م کال کې لس لوی خپروونکي – چين، امريکا، اروپايي اتحاديه EU27، هند، روسيه، اندونيزيا، برازيل، جاپان، ايران او سعودي عربستان وه چې د نړۍ د شنو خونو ګازونو له ٦۰ سلنه څخه ډېر جوړوي.




مهم بدلونونه:

• د اروپايي اتحاديې يا EU27 اوږد مهاله کمښت تر ټولو لويه کچه ترلاسه کړه، د ۱۹۹۰م کال په پرتله يې اخراجات ۳۵٪ کم کړل او له ۲۰۲۳م څخه تر ۲۰۲٤م پورې يې نور ۱.۸ سلنه کم کړل.

• د امريکا متحده ايالاتو اخراجات د ۱۹۹۰م کال په پرتله ۵٪ کم دي.

• روسيې له ۱۹۹۰م کال راهيسې اخراجات ۱٦٪ کم کړي دي.

• چين له ۱۹۹۰م کال راهيسې خپل اخراجات تر ځلورو چنده زيات کړي دي.

• هندوستان په همدې موده کې خپل اخراجات تقريبا درې چنده کړي دي.

• د لويو اخراجوونکو په منځ کې، اندونيزيا په ۲۰۲٤م کال کې تر ټولو لوړ نسبي زياتوالی (+۵٪) درلود.

دا رجحانات يا تمايلات د صنعتي شوو اقتصادونو او چټک ودې لرونکو پرمختيايي هېوادونو تر منځ د بېلابېلو لارو څرګندونه کوي؛ چېرې چې په صنعتي اقتصادونو کې اخراجات يا ثابت دي يا کمېږي، په چټک پرمختيايي هېوادونو کې بيا د انرژۍ غوښتنه په چټکۍ سره زياتېږي.

**٤-ځمکه کارونه، د ځمکې کاروني بدلونونه، او ځنګلداري(LULUCF)**

په نړيواله کچه، د LULUCF سکتور لا هم د $CO_2$ خالص جذبوونکي په توګه پاتې دی، چې په ۲۰۲٤م کال کې شاوخوا ۱.۳ ګيګا ټنه $CO_2$ معادل جذبوي، پرته له د ځنګلي اورلګېدني اخراجاتو.

خو:

• ځنګلونه پرې کول (Deforestation) ۳.۷ ګيګا ټنه $CO_2$ توليد کړل، چې د نړيوالو $CO_2$ اخراجاتو تر ۹٪ پورې ونډه لري.

• ځنګلي اورلګېدنې ۲.۱ ګيګا ټنه $CO_2$ معادل اخراج کړل، چې د ۲۰۲۳م کال په پرتله ټيټ دی، خو په هغو سيمو کې د اوږد مهاله اوسط څخه لوړ دی لکه: شمالي امريکا (کاناډا)، برازيل او بوليويا

• په EU27 کې د ځنګلي اورلګېدني اخراجات ټولټال ٤.۹ ميليون ټنه $CO_2$ معادل ول، چې پرتګال په ۲۰۱۷م کال راهيسې تر ټولو لوړ اخراج تجربه کړ.

دا موندنې د اقليم بدلون پر وړاندې د ايکوسيستمونو د زياتو زيانونو څرګندونه کوي او د ځنګلونو د ساتنې اهميت په ډاګه کوي.

**۵-د افغانستان لپاره اغېزې او درسونه**

که څه هم افغانستان په نړيوالو خپرونو کې ډېر لږ ونډه لري يعنې يوازې ۰.۰٦ سلنه، خو د اقليمي بدلون له خطرونو څخه تر ټولو زيان پذيرو هېوادونو کې شمېرل کېږي. نړيوال راپور د افغانستان لپاره لاندې درسونه وړاندې کوي:

| Country | 1990 | 2000 | 2005 | 2015 | 2020 | 2023 | 2024 | 2024 % |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| unit | Mton $CO_2$eq | Mton $CO_2$eq | Mton $CO_2$eq | Mton $CO_2$eq | Mton $CO_2$eq | Mton $CO_2$eq | Mton $CO_2$eq | % World Tot |
| EU27 | 4864.28 | 4468.66 | 4552.22 | 3885.94 | 3395.60 | 3222.52 | 3164.66 | 5.95 |
| GLOBAL TOTAL | 32249.90 | 35794.00 | 40919.60 | 48451.40 | 48962.10 | 52540.80 | 53206.40 | 100.00 |
| Afghanistan | 12.93 | 14.36 | 16.14 | 28.09 | 32.40 | 32.44 | 33.03 | 0.06 |
| Albania | 11.50 | 7.20 | 7.99 | 8.76 | 8.00 | 7.26 | 7.12 | 0.01 |
| Algeria | 132.00 | 153.68 | 158.96 | 228.83 | 233.83 | 258.94 | 252.70 | 0.47 |

٥.١ د نوي کېدونکو انرژیو پراختیا ته لومړیتوب ورکول: د برېښنا سکتور د خپرونو چټک زیاتوالی د فوسیلي سون توکو پر تکیه کولو پایلې نښيي. افغانستان د اوبو، لمر او باد پراخه سرچینې لري چې کولی شي له لوړ کاربن لرونکي پرمختګ څخه مخنیوی وکړي.

٥.٢ د انرژي د موثریت پیاوړتیا: د ودانیو سکتور یوازینی نړیوال سکتور دی چې د اوږدمهاله اخراجاتو کمښت ښيي. افغانستان هم کولی شي د مؤثره رڼاګانو، ښه عایق، عصري تودوخې سیستمونو، او د انرژي مؤثریت لرونکو ودانیزو طریقو څخه ګټه واخلي.

٣.٥ د ترانسپورټ سکتور عصري کول: سره له دې چې د نړۍ د ترانسپورټ اخراجات په دوامداره توګه زیاتیږي، افغانستان کولی شي د پاک ترانسپورټ پالیسۍ، عامه ترانسپورت پراختیا، د برېښنايي وسایطو کارول، او د وسایطو د کنټرول له لارې راتلونکی لوړوالی مهار کړي.

٥.٤ د ځمکې مدیریت او د ځنګلونو ساتنې پیاوړتیا: د LULUCF سکتور د نړۍ د کاربن د جذبونکي په توګه د اهمیت څرګندونه کوي، چې لاندې اقدامات ته اړتیا لري:

- د ځنګلونو بیا جوړولو پروګرامونه
- د اوبو حوضو ساتنه
- د ټولنې پر بنسټ د ځنګل مدیریت

دا اقدامات نه یوازې د اخراجاتو کمولو کې مرسته کوي، بلکې سیلابونه، وچکالي، او د خاورې د خرابېدو مخنیوی هم کوي.

٥.٥ د اقلیمي معلوماتو او څارنې د ظرفیت جوړول: لکه څنګه چې د نړیوالو احصایوي معلوماتو له لارې ښودل شوي، دقیق معلومات د پلان جوړونې لپاره اړین دي. افغانستان باید لاندې برخې پیاوړې کړي:

- د اخراجاتو څارنې سیستمونه
- د اقلیم معلوماتو راټولونه
- د وزارتونو ترمنځ همغږي
- د نړیوالو اقلیمي ژمنو لپاره د راپور ورکولو ظرفیت

٦. پایله

په ۲۰۲٤م کال کې د شنو خونو د ګازونو نړیوال زیاتوالی د نړیوالو ګډو هڅو او پیاوړو ملي تګلارو اړتیا نوره هم روښانه کوي. سره له دې چې ډیری هېوادونه خپل اخراجات کموي، خو نړیواله تولیزه اندازه د پرمختګ کوونکو اقتصادونو د لوړېدونکي انرژي د تقاضا له امله لا هم لوړیږي. د افغانستان لپاره دا راپور هم یو خبرداری او هم یوه موقع ده: که هېواد په نوي انرژي پانګونه وکړي، زیربناوې عصري کړي، د ځمکې مدیریت ښه کړي، او اداري ځواکمنې کړي، نو کولی شي یو مستحکم او ټیټ کاربن لرونکی راتلونکی جوړ کړي.

د نړۍ د خپرونو د تمایلاتو درسونه افغانستان ته یوه ارزښتناکه نقشه وړاندې کوي چې د وخت د حساسیت، مخکښ فکر او قاطعو اقداماتو اړتیا پیاوړې کوي .

سرچینې او مراجع

١ . د نړۍ د ټولو هېوادونو د شنو خونو ګازونو (GHG)اخراجاتو راپور – ٢٠٢٥م

د اروپايي کمېسیون د ګډو څېړنو مرکز(JRC) ، ٢٠٢٥م.

٢ . د انرژي انستیټیوټ(EI)
د نړۍ د انرژي احصایوي بیاکتنه ٢٠٢٥م
٣ – IEA. د نړیوالې انرژي اداره
د انرژي څخه د شنو خونو ګازونو اخراج – د ٢٠٢٤م کال چاپ
او د نړیوالې انرژي توازن ٢٠٢٤م، www.iea.org

# د ټرونونو په رژیم کې د انعطاف راوستل

لیکونکی: استاد برکت الله "آریوبی"

پهٔ تېرپسې

په هر صورت نیپال به د خپلو سیندونو اوبه چې ډېرې نیپالیان ورپورې ترلي دي همداسې تسلیم نه کړي. هند او بنګله دیش د ستونزو سره سره بیا وتوانیدل د ۱۹۹۶م کال په اواخرو کې یوه معاهده لاسلیک کړي چې دواړه لوري د یوه پیچلي فورمول په اړه سره سلا شول. د اوبو جریان په کمې وخت خصوصاً د جنوري له لومړۍ تر مي ۳۱ مي نیټې پورې دواړه لوري د ۳۵۰۰۰ مترمکعب في ثانیه د اوبو کچه ساتي کچیري اوبه له دي هم ډېرېږي بیا دواړه لوري مکلفیت لري چې د ۱۰ ورځنیو دورو په بنه دا کچه هماغسې ثابته وساتي. همداراز دا معاهده د سارک سازمان تر چتر لاندې جامع د ستونزو او اختلافاتو رسیدګی حل او فصل وړاندېز کوي. د معاهدې امضاء پرمهال د دواړو هیوادونو مشرانو ډېر جدي رضایت ښکاره کاوه ځکه چې دواړو لوریو ایچ ډي دیوي ګوودا د هند لومړی وزیر او د بنګله دیش لومړی وزیره شیخ حسینه نزدي او دوستانه اړیکې سره درلودې (haftendorn, ۲۰۰۰).خو کهٔ چېرې د ګنګا سیند اوبه په جامع توګه مدیریت کېږي ټول ښکېل ملتونه به ګټه کوي. په وچه کې راګېر نیپال به بریښنا خرڅه کړي او همداراز هند به بحر ته لار مومي. په ورته وخت کې به هند او بنګله دیش هم د سیلابونو له زیانونو خوندي وي، بریښنا به ترلاسه کړي او د ځمکو خړوبولو لپاره به په مناسب وخت کې اوبه ترلاسه کوي. لیکن کهٔ چیرې ملتونه په ښتیني توګه همکاري سره ونه کړي د ګډ جامع مدیریت پراختیا چانس کمیږي. بنګله دیش په دې برخه کې د اقلیمي تغییراتو له کبله له سیلابونو، وچکالی د اوبو کمښت څخه خورا اغیزمن دی. سربېره پر دې د بحر د اوبو سطحې په لوړوالي هم دا هیواد ډېر اغیزمنونکی دی ځکه له یو اړخه یې ډېری سیمې تر اوبو لاندې کېږي او له بل لوري په هیواد کې یې د خاوري مالګینتوب کچه ډېرېږي. هند او بنګله دیش دواړه د نفوسو ډېروالي له کبله د طبیعي حوادثو څخه ډېر اغیزمنېدونکي ښکاري او دا چاره په سیمه کې د لا زیاتو خصوماتو او بې ثباتیو لامل کېدای شي.

### د کلوراډو سیندیزه حوزه

دا سیندیزه حوزه له وایو مینګ لوړو څخه شروع کېږي، کلوراډو، اوتاوا او نیو مکسیکو څخه په عبور د نوادا، اریزونا، کلیفورنیا دښتو څخه تیریږي او د مکسیکو پولې څخه وروسته د کلیفورنیا خلیج ته بهیږي (Brown, ۲۰۱۲). دا اوبه د شمالي امریکا سیندیز سیستم په برخه کې د محلي خلکو د زراعتي او معیشتي موخو لپاره خورا اړینې دي. په بره کې پروت متحده ایالات په تاریخي لحاظ کلوراډو سیند خپل ابتدایي او ملي سیند بولي او انجنیران یې هڅه کوي چې بحر ته یې له تویدو مخه ونیسي او ګواکې له ضایع کېدو څخه یې مخنیوی کوي. ځینې مفسرین په دې باور دي چې کلوراډو نور سیند ځکه نه دی چې ګواکې په دې ۱۴۰۰ مایلي طول لرونکي سیند باندې ډېر بندونه او ذخیروي ساختمانونه جوړ شوي دي چې ټول جریان یې تنظیم کړی. (p.Fradkin, ۲۰۱۱)د کلوراډو سیندیزې حوزې پراختیا د تېرې پیړی په اوږدو کې هغه مهال پیل شوه چې د کلورنیا درې بزګرانو د «ټول امریکا کانال»[1]پروژې په ترڅ کې خپلو وچو خو حاصلخیزه ځمکو لپاره اوبه غوښتې. بزګرانو وار له مخه هم اوبه د کلوراډو سیند څخه د یو سنتي کانال پرمټ راګرځولې وې، لیکن کانال د مکسیکو پر خاوره پروت وو. له بزګرانو څخه مکسیکو کابو نیمي اوبه د دې لپاره اخیستې چې ګواکې کانال د دوی په خاوره کې موقعیت لري. (Brown, ۲۰۱۲) په ۱۹۲۰م کې د لاس انجلس وګړو هم د کلوراډو سیند څخه د ځنباک اوبو او اوبیزې بریښنا تولید په موخه استفاده پیل کړه. د کلوراډو سیند پورتنۍ برخه کې ایالتونو دا وګڼله چې د لاندې پرتو ولایتونو له لوري د اوبیزې چټکې پراختیا له کبله به دا ایالتونه د پخواني تخصیص یا تاریخي استفادې حق دعوه وکړي او په دې توګه به د راتلونکي لپاره د بره پرتو هیوادونو استفادې ته خطر متوجه کړي. په ۱۹۲۲م کې د سیندیزې حوزې پاسني ۷ ایالتونه سره راټول شول او د سیندیزې حوزې اوبو څخه د ګټې اخیستنې څرنګوالي په برخه کې یو ګډ تفاهم رامنځته کړ چې د پورتنیو او لاندینیو ایالتونو د تخصیص ونډه پکې معلومه کړې(act ۱۹۲۱) . دوی په خپلو منځونو کې سره اوبه ووېشلې او دا یې ګڼله چې ګواکې اضافي اوبه به پاتې شي چې بیا به مکسیکو ته په راتلونکي کې ورکړل شي. د داخلي ایالتونو ترمنځ د تفاهم پرمهال د مکسیکو او متحده ایالاتو ترمنځ د کلوراډو په هکله کومه رسمي معاهده نه وه منعقد شوې.

سره له دې چې طرفینو په دې اړه کلونه کلونه مذاکرات کړي وو او د کلوراډو پر سر اختلافات د دواړو ترمنځ د ریو ګرندي سیندیزې حوزې اختلافاتو شتون له کبله تر سیوري لاندې راغلي وو. په ۱۹۲۹م کې متحده ایالاتو مکسیکو ته د دې سیندیزې حوزې څخه ۰،۷۵ ملیون اکرفیټ اوبو ورکړې پیشنهاد وکړ چې کابو د دوی شته استفادې سره برابره وه لیکن مکسیکو د دې مقدار ٤ چنده زیاتې اوبو غوښتنه کوله. (Hudndley, ۲۰۱۲)په ۱۹۳۶م کې د هووار بند او په ۱۹٤۲م کې د ټول امریکا کانال پروژې په تکمیل سره امریکا نوموړې سیندیزه حوزه په خپل کنټرول کې راوسته. مکسیکو په دې اړه ډېر کم غوراوی درلود او مجبوره شوه چې د مذاکراتو میز ته کښېني او په پایله کې دواړو هیوادونو د کلوراډو ۱۹٤٤م کال تړون امضاء کړ.

د تړون سره سم مکسیکو ته په کال کې ۱،۵ ملیون اکرفیټ اوبهٔ ورکړل شوې دي چې د معاهدې د فېکس(تعیین شوې) جدول له مخې به ورته تسلیمیږي (treaty, ۱۹٤٤م). البته د فوق العاده او ډېرو شدیدو وچکالیو پرمهال کله چې د متحده ایالاتو له لوري استفاده کېدونکې اوبه یا کښت لپاره د پام وړ کچه اوبه کمې شي مکسیکو کې به هم په هماغه اندازه کمې اوبه ترلاسه کوي. چې دا مورد تر اوسه نه دی عملي شوی ځکه چې مکسیکو په هر حالت کې خپلې اختصاص شوې اوبه ترلاسه کړې دي. (Gleick, ۲۰۱۰م)کهٔ چېرې په یو اوبیز کال کې ډېرې اوبه ترلاسه کېږي ممکن مکسیکو تر ۱،۷ میلیون اکرفیټ اوبه ترلاسه کړي لیکن مکسیکو به د ۱،۵ ملیون اکرفیټ څخه د زیات حق دعوه نه کوي او په دې توګه متحده ایالات په تړون کې مکسیکو ته د اختصاص شویو اوبو څخه علاوه ټولې اوبه د ځان لپاره تخصیص کړې او تضمین کړې یې دي.

د ۱۹٤٤م کال تړون د دواړو هیوادونو ترمنځ د مصرفي استفادې (consumptive uses)او د سیند ګډه پراختیا باندې ډېر ټینګار کوي. دې دواړو هیوادونو موافقه کړې چې په خاوره کې به یې ذخیروي کارونه، انحرافي ساختمانونه او نور اوبخوړ سهولتونه رامنځته کوي چې له مخې یې مکسیکو ته د اوبو تحویلولو کې

1 - All-American Canal.
2 - International boundary and water commission
3 - The menutes becoming binding except where the specific approval of the two governments is required by any provision of the treaty.id.

سهولت او آسانتيا رامنځته شي. همداراز طرفينو هوکړه کړې چې په لاندېني کلوراډو کې د سيلابونو کنټرول چارې مخکې يوسې چې هر يو يې د جوړونې، عملي کونې او ساتنې مصارف پرغاړه اخلي (treaty, ۱۹۴۴م) . د معاهدې له مخې د دواړو لوريو له لوري د اوبو بين المللي کميسيون او پولې په نوم (IBWC)[۲] کميسون رامنځته شوی چې د کلوراډو او ريو ګرندي اړوند اوبو سرچينو ګډ مديريت په هکله موارد لري. د دواړو لوريو مشري، تخنيکي انجنيران/کميشنران کوي. کميسون د خپلو چارو ترسراوۍ په موخه پراخ واکونه لري چې د کارونو ترسره کولو لپاره پلانونه او برنامې تنظيموي، عملي او اجرا کوي يې. همداراز کميسون کولای شي د طرفينو د غوښتنې په صورت کې معلومات راټول او اړوند برخو کې لازم تصاميم ونيسي. کميسون کولای شي د اوبو سرچينو اړوند هر ډول اختلافاتو ته رسيدګي وکړي. کميسون صلاحيت لري چې د راتلونکو تغييراتو او وضعيت ته په کتو لازم تصاميم د عيارولو لپاره ونيسي او د صورت جلسې موارد عملي کولو په برخه کې لازم ګامونه اوچت کړي. که چيرې کميسون د ځينې موارده په اړه تصميم نيسي او صورت جلسه رامنځته کوي هغه به حکومتينو ته سپاري او که چيرې په ۳۰ ورځو کې د طرفينو له لوري نه تصوييبيږي نو صورت جلسه خود به خوده تصويب شوي حسابيږي[۳] همداراز د کلوراډو حقوقي رژيم مهمه برخه جوړوي. نوموړې معاهده د سيندیزې حوزې د اکوسيستم په اړه کوم ځانګړي موارد نه لري او نه هم د هغو اوبو کيفيت په اړه څه يکې ذکر دي چې مکسيکو ته ورکول کيږي. دا ستونزه هغه مهال جدي شوه کله چې متحده ايالاتو له لوري په ۱۹۶۰م کې مکسيکو ته د ورتلونکو اوبو مالګينتوب کچه کابو دوه برابره ډېره شوه او په دې اړه مکسيکويې بزګرانو ته د اوښتونکو زيانونو لګښت ۱۵۰ مليون ډالر اعلان شو . (Bulson, ۱۹۷۵م)د کلونو کلونو مذاکرې وروسته طرفين مکسيکو ته د ورتلونکو اوبو کيفيت په اړه يوې هوکړې ته سره ورسيدل. د ۱۹۶۵م او ۱۹۷۲م کلونو ترمنځ امريکا هوکړه وکړه چې مکسيکو ته به لا ډيرې اوبه خوشې کړي چې مکسيکو ته د ورتلونکو اوبو مالګينتوب ومينځي او همداراز متحده ايالاتو ومنله چې د ۲۴۲ صورت جلسې له مخې مکسيکو ته د ورتلونکو اوبو مالګينتوب کچه کنټرول کړي. له هغه راهيسې د مالګينتوب کچه کنټرول شوې او مکسيکو ته د نوموړي تفاهم له مخې د اوبو کيفيت هم په نظر کې نيول کيږي. ليکن د مالګينتوب ستونزه به دوامداره وي تر هغې چې د کلوراډو سيند څخه د کرنې لپاره ګټه اخيستل کيږي.د متحده ايالاتو اقدامات د برو پروت هيواد په حيث ډير مهم دي چې څنګه وکړای شي مسؤليت واخلي تر څو د خپلې خاورې څخه تېرېدونکو او مکسيکو(ښکته پروت هېواد) ته د تلونکو اوبو مالګينتوب کچه تر يوې کچې محدوده وساتي. د راتلونکو ستونزو او ننګونو سره د عيارولو په موخه د دواړو ترمنځ شته کميسيون د ظرفيت لوړول خورا مهمه مسئله ده چې د اقليمي تغييراتو په شان مسائلو سره ځان متعادل کړي. سره له دې چې يوې مهمې ستونزې د دا ډول پراختيا ستونزه جدي کړې ده هغه د فوق العاده وچکالی مسئله ده او په دې ترون کې د نوموړې وچکالي حالاتو سره د تطابق او په دې اړه کوم موارد نه دي ذکر شوي چې د ورته حالاتو رامنځته کېدا په صورت کې به څه ډول برخورد کيږي او د کلوراډو سيندیزې حوزې جريان به څنګه تنظيميږي. يوې څېړنې مونډلې چې په راتلونکې کې به په دې سيندیزه حوزه کې د تودوخې درجه لوړيږي چې ورسره به د کلوراډو سيندیزې حوزې جريان ۲۹ سلنه کميږي . (waggoner, ۱۹۸۳م) د سيندیزې حوزې کابو دربيمه حصې اوبو جريان کموالی به په سيمه منفي اغيز وکړي څکه چې وار له مخه دا سيمه په جدي توګه د کلوراډو سيندیزې حوزې اوبو پورې تړلې ده. متحده ايالات به هڅه کوي چې د فوق العاده وچکالی پرمهال په تناسبي توګه د مکسيکو ته تلونکی جريان کم کړي مکسيکو به په دې اړه اعتراض کوي او يوازې د لندمهاله ستونزې په توګه يې ممکن وزغمي ليکن د اقليمي تغييراتو په اړه اوږدمهال لپاره يې تحمل ورته ستونزمن کار دی. ممکن په هر حالت کې مکسيکو ۱،۵ مليون اکرفيت خپل حق وغواړي پرته له دې چې په اوږدمهال کې د مکسيکو جريان خومره اغيزمنيږي. که پايله هرڅه وي د متحده ايالاتو او مکسيکو هيواد دواړو توانايي د يوې رضايت بخشه هوکړې ته د رسيدنې په پار په شدت سره آزمايل کيږي.

1. act, c. r. (1921). *colorado river compact act,42 stat.171(1921).*
2. B.GODANA. (1985). *African shared water resources: legal and institutional aspects of the nile, niger and senegal river systems.*
3. Brown. (2012). climate variability and the colorado river impact:imlecations for responding to climate change,. *journal of hydrology*, 11-12.
4. Bulson. (1975). *colorado river salinity problem: has a solution been found?* ٩th internatioanal law,283.
5. Gleick. (2010). *Gleick supra note 42, at 27.*
6. haftendorn, H. (2000). water and international conflict,. *third world quarterly, 21:1*, 51-68.
7. Hudndley. (2012). *hundley, supra note 163.at 26.*
8. Islam. (2012). *the gangas water dispute: an appraisal of a third-praty settlement,27.*
9. J.starr&D.stoll. (1988). *climate change and US foreign policy options in the upper nile river basin.*
10. J.waterbury. (1979). *hydropolitics of the nile vally.*
11. Kaye. (1989). *resources and rights.* at 19,22.
12. Lwehabura. (2011). *cooperation in the management and developments of kagera river basin.* UN department of technical cooperation for development.
13. M.Janis. (1988). *An introduction to international law.*
14. note, H. s. (2011). *the bhagirathi, the gangas first major distributry, is heavily silted, with a natural flow only in the rainy season.* 111,at711.
15. p.Fradkin. (2011). *supra note 164.*
16. Recent development, i. a. (1978). *Gangas water treaty, bangladish indai,19 Harv.708.*
17. service, o. N. (١٩٨٥). *Bangladish demands shard of common river water with indai.*
18. starr. (1985). Egypt is african and its principle problem is water. *intl herald tribune*.
19. treaty, c. (1944). *article 13 of colorado treaty.*
20. UNFAO. (1978). *legislative study no 15, systematic index of international water resources treaties.*
21. waggoner, R. a. (1983). *effects of a corbon dioxide-induced climate change on water supplied in western united states,.* board on atmospheric science and climate national reasearch council.



# برف

تهیه و ترتیب توسط: انجنیر روح الله بیگی

**برف چیست؟**

برف یکی از نعمات الهی و پدیده‌های جوی طبیعی است، که در اکثرمناطق جهان بخصوص در فصل زمستان میبارد و مشاهده می‌شود. همچنان برف به دانه‌های باران منجمد شده گفته می‌شود که از کریستال‌های یخ شکل می‌گیرند و در ابرهای سرد در فضأ تشکیل می‌شوند. این دانه‌ها وقتی به زمین می‌رسند، به صورت توده‌های نرم و سفید بر روی زمین می‌نشینند، و به تدریج تبدیل به لایه‌های ضخیم برف شده بلاخره ذوب میگردند و به جریانات آب مبدل میگردند

**بارش برف**

برف از جمله عناصر اقلیمی بوده و بشکل باران منجمد میبارد، و بارش برف که به شدت آن بستگی دارد و به سه نوع صورت میگیرد ملایم، متوسط و سنگین. هم چنان بارش برف نظر به وضعیت درجه حرارت و سردی مربوط میشود که اگر درجه حرارت در هوا بسیار سرد باشد برف خشک میبارد و اگر درجه حرارت درهوا کمتر سرد باشد درینصورت برف تر میبارد که این حالات برف در کشور ما برف خشک که اکثراً در اوایل فصل زمستان واقع میشود و برف تر در اواخر فصل زمستان واقع میشود. چنانکه تشریح نمودیم این وضعیت مربوط به درجه حرارت در هوای کشور میشود. برف به دلیل اینکه با گذشت زمان به آب تبدیل خواهد شد، از اهمیت بیشتری نسبت به باران برخوردار است.

**رنگ برف**

برف بصورت عموم رنگ سفید دارد، ولی جالب است که بدانیم برف به رنگ‌های دیگری نیز می‌بارد. به دلیل بازتاب دادن تمامی نورها (سرخ الی بنفش) به رنگ سفید مشاهده می‌کنیم. قابل یاد آوریست که نور سفید (مثل نور آفتاب) ترکیبی از همه رنگ‌هاست، اگر جسمی نور را دریافت کند و همه رنگ‌ها را بازتاب بدهد، چشم ما آن را سفید می‌بیند و اگر جسمی همه نور را جذب کند و هیچ رنگی را بازتاب ندهد، ما آن را سیاه می‌بینیم . اما در بعضی از نقاط جهان به دلیل موجودیت انواع و اقسام آلوده کننده های طبیعی مانند گرد و غبار و یا انواع و اقسام آلوده کننده های صنعتی مانند دود و مواد های کیمیاوی در هوا، برف به رنگ‌های خاکستری، نیمه سبز، کمی آبی و حتی اندکی سرخ نیز دیده می‌شود. چراکه هنگام بارش برف این آلودگی‌ها با آن مخلوط می شوند و ما آن را رنگی می‌بینیم.

**تشکیل برف**

برف زمانی تشکیل می‌شود، که در جوّ بالا درجه حرارت به زیر صفر درجه سلسیوس (۰°C) برسد، بخار آب موجود در هوا به صورت مستقیم (بدون تبدیل به آب مایع) به کریستال یخ تبدیل شود، این کریستال‌های یخی کوچک، در اطراف ذرات گرد و غبار یا نمک هوا شکل می‌گیرند. سپس این بلورهای یخی به هم می‌چسبند و دانه‌های برف (Snowflakes)را تشکیل می‌دهند.

معمولاً این دانه ها از کریستال‌های یخ شش‌ضلعی و اشکال مختلف ساخته شده‌اند، که شکل آنها بستگی به دما و رطوبت محیط دارد، تقریباً دانه های برف کاملاً شکل یکسان ندارند، بصورت عموم ساختار بلوری برف همیشه شش‌ضلعی است، چون مولکول‌های آب وقتی منجمد می‌شوند به شکل شش‌ضلعی منظم کنار هم قرار می‌گیرند.



**انواع برف**

برف‌ها می‌توانند انواع مختلفی داشته باشند که بسته به شرایط جوی و نوع بلورهای یخی به‌وجود آمده باشد، شکل‌ها و ویژگی‌های متفاوتی دارند. از جمله انواع مختلف برف می‌توان به:

- **برف دانه‌ای** :زمانی که دانه‌های برف بزرگ و نرم هستند.
- **برف فشرده** :برفی که تحت فشار قرار گرفته و دانه‌های آن فشرده و کوچک‌تر شده‌اند.
- **برف ریزشی** :زمانی که برف به سرعت و در مقادیر زیاد می‌بارد.
- **برف خزانی** :برفی که در خزان می‌بارد و معمولاً کوچک و مانند برنج است.

**فواید برف**

برف ذخیره آب جامد محسوب می‌شود و منبع بسیار مهمی برای تأمین آب شیرین به‌شمار می‌رود. برف به خاطر اینکه رفته‌رفته به آب تبدیل می‌شود اهمیت بیش‌تری نسبت به باران دارد. چون برف محتوی مقدار زیادی هواست، و ضعیف ساز برای گرمی شناخته می‌شود. به‌همین علت پوششی از برف می‌تواند سبزی‌های در حال خواب مزارع را محافظت کند و یا از درختان در مقابل سرمای بیش از حد نگه‌داری کند و اسکیموها را در ساحات برفی امان دهد. در حقیقت برف بزرگ‌ترین پشتوانه بر زندگی بشر در قسمت آشامیدن، زراعت، آبیاری و ادامه حیات است.

**خسارات ناشی از بارش برف**

این حقیقت را نباید از نظر دور داشت که ، در روزهای برفی چشمان ما ، ممکن است به شدت آسیب ببینند، و یا بارش برف می‌تواند باعث مسدود شدن راه ها ، ایجاد سیلاب ها و برفکوچ ها و بسیاری مسائل دیگر باشد. همه ساله تعداد زیادی از جانداران و حتی انسانها ، بخاطر سرمای شدید و بارش برف ، جان خود را از دست می‌دهند، موترها دچار تصادف می‌شوند و تعدادی از خانه‌ها نیز ویران می‌گردند..

**برف در مناطق مختلف جهان**

تحقیقاتی که توسط ارگانهای معتبر بین المللی صورت گرفته است نشان میدهد که درمناطق قطب شمال یا نیم کره شمالی اکثراً برف باری ها صورت میگیرد، اما در قطب جنوب یا نیم کره جنوبی برف باری ها به ندرت صورت میگیرد یا هیچ نمی بارد. طوریکه در شکل نشان داده شده است. بطور کلی برف:

- در مناطق قطبی (مثل قطب شمال و قطب جنوب) برف به‌طور دائمی وجود دارد و تمام سال بر روی زمین می‌ماند.
- در مناطق کوهستانی و سردسیر، برف به‌طور فصلی می‌آید و در زمستان‌ها زمین را پوشش می‌دهد.
- در مناطق گرمسیری، برف نادر است و فقط در ارتفاعات کوهستانی مشاهده می‌شود.



نقشه کشورها بر پایهٔ بارش برف ▢ برف در همهٔ مناطق ▢ برف در همهٔ مناطق ▢ برف در زمین‌های زیر ۵۰۰ متر از سطح دریا اما نه در همهٔ مناطق (به‌ویژه در مناطق ساحلی یا بیابانی) ▢ احتمال برف در زمین‌های زیر ۵۰۰ متر از سطح دریا، اما به ندرت ▢ برف تنها در زمین‌های بالای ۵۰۰ متر از سطح دریا ▢ برف تنها در زمین‌های بالای ۲۰۰۰ متر از سطح دریا ▢ بدون برف

**اثر ات منفی برف**

با توجه به تغییرات اقلیمی، بارش برف در برخی مناطق تغییر کرده‌اند. در برخی از نقاط، برف کم‌تر باریده و در برخی دیگر، بارش برف بیشتر شده است. این تغییرات می‌توانند تأثیرات زیادی بر منابع آب و اکوسیستم‌ها داشته باشند.

اثرات منفی:

- جاده‌ها بسته می‌شوند، تصادف‌ها زیاد می‌شود، و رفت و آمد سخت می‌شود.
- در کوهستان‌ها، برف انباشته ممکن است با حرکت ناگهانی پایین بیاید و جان انسان‌ها را تهدید کند.
- افتادن روی یخ، سرمازدگی، و بیماری‌هایی مثل سرماخوردگی، آنفلوانزا و ذات‌الریه.
- برف سنگین ممکن است لین برف و تأسیسات را تخریب کند.

**اثر ات مذبت برف**

برف در محیط زیست به اکوسیستم‌ها کمک می‌کند تا آب مورد نیاز خود را در بهار و تابستان‌ها از ذوب شدن برف‌ها دریافت کنند. همین طور برف پوشش گرم و محافظ برای گیاهان و حیوانات در فصل سرد سال است.

همچنان برف می‌تواند بر زندگی روزمره انسان‌ها تأثیر زیادی بگذارد، از جمله مشکلات حمل‌ونقل، سرمای شدید و خطرات بهمن. در عین حال، برخی افراد از برف برای تفریح و ورزش‌هایی مثل اسکی، اسنوبورد و شبیه به این‌ها استفاده می‌کنند.

# په تخنیک کې د کود او ستندرد تر منځ توپیر

لیکونکی: انجنیر همت الله امین زی

کود او ستندرد دوه هغه لغتونه دي، چې په انجنیري کې ډېر کارېږي. ددې دواړو تر منځ توپیر کول ډېر مهم دي.

کود Code

کود د هغو اصولو او مقرراتو یا هم تعریفونو سېټ دی، چې وروسته له څو لسیزو تجربو، قضاوتونو او عملي کارونو د یو مشخص تولید، خدمات، تخنیکي موضوع د روښانتیا او تشریح لپاره تر ټولو کمو ځانګړتیاو په توګه مینځ ته راغلي دي.

د بیلګې په توګه د ودانیو نړیوال کوډونه (IBC) د ودانیو په جوړونه کې د اور پروړاندې د ودانۍ خوندیتوب او د اور د مخنیوي تدابیر ضرور ګرځولي




**ستندرد Standard**

ستندرد د تشریحي اصولو، پروسو، پروسیجرونو او لارښوونو یو سېټ دی، چې له ازمایښتونو او مشخص کولو وروسته د یو ځانګړي محصول، خدماتي کار، تخنیکي موضوع د تولید لپاره د ورکولو شوو غوښتنو او ځانګړتیاو سره سم د کود لخوا منل شوي، یو ښه او تجربه شوی تمرین شمیرل شوی.

د بیلګې په توګه (په ودانیو کې د اور خوندیتوب او مخنیوي سیستم) تقریبا په نړۍ کې ټول هیوادونه په ودانیو کې د اورخوندیتوب او مخنیوي د سیستم د غوښتنې د پوره کولو لپاره خپل خپل ستندردونه لري.

په روسیه کې کیدای شي ددې لپاره یوه تګلاره غوره شوې وي، په هند کې بله او په فرانسه کې بله لاره غوره شوې وي.

هر ستندرد د اور د مخنیوي او خوندیتوب لپاره مشخص سیستم وړاندیز کوي، چې دا غوښتنه پرې پوره شي، نو ویلی شو چې کیدای شي د یو مشخص کار لپاره بېلا بېل ستندردونه وکارول شي خو د یو مشخص کود غوښتنې پرې تر لاسه شي.

په ساده ډول که ووایو، کودونه هغه تر ټولو اصغري غوښتنې او ځانګړتیاوې دي چې مستقیما د بشري ژوند او مدنیت په اساس ضرور دي او ستندردونه هغه تخنیکي لارې دي د کوم په واسطه چې دا غوښتنې او اړتیاوې پوره کیږي.

کودونه د قانون تکمیلونکي اسناد دي او ستندردونه هغه کړنلارې چې کود غوښتنې پرې پوره کیږي.

کودونه په اصل کې یو شمیر ژمنې دي او ستندرد هغه لارې مشخص کوي چې دا ژمنې پرې پوره کیږي. کود مقررات او اصغري غوښتنې دي او ستندرد د هغې د لاس ته راوړلو لپاره تخنیکي سپارښتنې، لارښونې او مشخصات دي.

د کود او ستندرد یادې بیلګې په دې ډول توضیح کولای شو، د بیلګې په توګه که ساکنه برېښنا په پام کې ونیسو، دا د موادو په مینځ یا په سطحه یا په منځ کې ناانډوله برېښنایي چارجونه دي. دا چارج تر هغه وخته پاتې کېږي، تر څو وکولای شي چې د برېښنایي جریان یا برېښنایي اخراج په واسطه وړاندې حرکت وکړي.

ساکنې برېښنا ته د جارې برېښنا سره د توپیر له امله نوم ورکړل شوی، په داسې حال کې چې یو برېښنایي چارج د برېښنایي لېږدونکي یا فضا په مټ چلېږي او انرژي لېږدوي.

کله چې دوه سطحې سره په اړیکه کې کېږي او یو بل سره یوښلي او جلا شوې وي، نو ساکن چارج

منځ ته راتللی او لږ تر لږه یوه سطحه د برېښنايي جريان په وړاندې زيات مقاومت کولای شي (او په همدې بنسټ دا يو برېښنايي خنډ دی/هغه اله چې انرژي ته اجازه نه ورکوي چې تېره شي).

د ساکنې برېښنا اغېزې ډېرو خلکو ته معلومې دي، ځکه خلک کولای شي بڅرکي (انګار) محسوسولای شي، اورېدلی شي او ان ليدلی شي، ځکه کله چې يو ستر برېښنايي هادي ته نژدې راوړل کېږي، نو اضافي چارج يې بې اغېزې کېږي (د بېلګې په ډول د ځمکې لاره)، يا يوه داسې سيمه چې د مخالف لوری (مثبت وي که منفي) اضافي چارج ولري.

د ساکنې صدمې (د برېښنايي انرژي نا انډولتيا) پېژندل شوې پېښه – په خاص ډول يو الیکټروستيټيک چارج اخراج د چارج د بې اغېزې کېدو له امله منځ ته راځي.

دغه راز مواد له داسې اتومونو څخه جوړ وي، چې عموماً له برېښنايي اړخه بې پرې وي، (مساوي الیکټرونونه او پروټونونه لري)، ځکه دوی د مثبتو چارجونو (د دوی په هسته کې پروټونونه) او منفي چارجونو (د هستې څخه شا اوخوا پوښ کې الیکټرونونه) مساوي شمېر لري.

د ساکنې برېښنا ښکارنده د منفي او مثبتو چارجونو جلا کېدو ته اړتيا لري. کله چې دوه مواد په اړيکه کې وي، شوني ده چې له يوې مادې څخه بلې ته الیکټرونونه حرکت وکړي،

کوم چې په يوه ماده د مثبتو چارجونو زياتوالی او په بله ماده مساوي منفي چارجونه پاتې کېږي. کله چې مادې سره جلا شي، دوی د چارجونو دا ناانډولي له ځانه سره ساتي.

دا چې د مادو تر منځ د اړيکې له امله الیکټرونونه سره تبادله شي؛ په کمزورې سره نښتي الیکټرون لرونکي مواد، دا الیکټرونونه له لاسه ورکوي، په داسې حال کې چې د بهرني سپر (پوښ) لرونکي مواد دا الیکټرونونه تر لاسه کوي. دا د ټريبواليکټريک اغېز په نوم پېژندل کېږي او د دې

په پايله کې يوه ماده منفي چارج او بله مثبت چارج خپلوي.

کله چې په ماده باندې دا چارج او تضاد يو ځل جلا شي، بيا په ټريبواليکټريک لړی کې په نسبي موقعيتونو پورې اړه لري. ټريبواليکټريک اغېز د ساکنې برېښنا بنسټيز لامل دی، لکه چې د هرې ورځې په ژوند او د عامو عالي ليسو د ساينس په ښودلو کې ليدل کېږي، په کومو کې چې د بېلا بېلو موادو يو ځای سره مږل شامل وي (لکه له يو اليکټريک ډنډې سره د وړی مږل/سولول).

د اړيکې له امله د چاج جلا کېدل ستاسې د ويښتو د ودرېدو لامل ګرځي او «ساکن يوځای کېدو» لامل ګرځي (د بېلګې په ډول کله چې يوه پوکانۍ له وېښتو سره وسولول شي، نو وېښتان منفي چارج اخلي؛ کله چې له دېوال سره نژدې وي، چارج شوې پوکانۍ په ديوال کې شته مثبت چارج شويو ذرو په لور کش کېږي او شوني ده چې له هغې سره ونښلي، داسې ښکاري چې د جاذبې قوې سره ځوړند دی).

همدا شان د فشار له امله د چارج جلا کېدل پلې شوی ميخانيکي فشار د ځانګړي ډول کريسټايل او سيراميکس ماليکولونو کې د چارج جلا کېدل پيدا کوي.

يا د تودوخې له امله د چارج جلا کېدل تودوخه د ځانګړو موادو په اتومونو يا ماليکولونو کې د چارج جلا کېدل منځ ته راوړي. ټول پيرواليکټريک مواد پيزواليکټريک هم دي، چې د تودوخې او فشار د غبرګون اتومي يا ماليکولي خصوصيتونه يو له بل سره نژدې اړيکه لري.

د چارج له امله د چارج جلا کېدل يو چارج شوی شی چې له برېښنايي اړخه بې پرې شي ته نژدې راوړل شي، په بې پرې شي کې د چارج د جلا کېدو لامل ګرځي. د همدې تضاد چارجونه په شا تمبول کېږي او د مخالف لوري چارجونه راکش کېږي.

له دې امله چې د برېښنايي چارج د تعامل له امله منځ ته راغلی طاقت د واټن په زياتېدو سره په چټکی غورځېږي، له همدې امله نږدې (مخالف

لوری) چارجونو اثر ډېر وي او دواړه شيان د راکش کېدو قوت محسوسوي. اغېز هغه مهال تر ټولو زيات څرګند وي، کله چې بې پرې شی (جسم) يو برېښنايي لېږدونکی (هادي) وي، ځکه دې حالت کې چارجونه ډېر ازاد وي چې په شا اوخوا کې حرکت وکړي.

د يو داسې شي يوه برخه په احتياط سره په ځمکه ايښودل چې د چارج له امله يې چارج جلا شوی وي، په دايمي ډول اليکټرونونه لرې کولای يا زياتولای شي، په داسې حال کې چې شی د ټول دايمي چارج سره پاتې کېږي. دا پروسه د Van » de Graaffجنراتور« د کار لپاره اړينه ده، دا يوه داسې اله ده چې عموماً د ساکنې برېښنا د اغېزو د څرګندولو لپاره کار څخه اخيستل کېږي.

له ساکنې برېښنا سره اړونده بلکه اليکټروستاټيک اخراج، يا يواځې د ساکنې برېښنا له خارجېدو څخه منځ ته راځي، ځکه اضافه شوی چارج د چارجونو د جريان يا شا اوخوا اطرافو څخه بې اغېزې کېږي.

د برېښنايي جټکې احساس د اعصابو د تحريکولو څخه منځ ته راځي، ځکه چې په انساني بدن کې بې اغېزې جريان بهېږي. په يو شي باندې د ساکنې برېښنا په توګه زېرمه شوې انرژي د شي اندازې او د هغې برېښنايي ظرفيت، ولتاژ له کوم څخه چې دا چارج کېږي او شا اخوا وسيلې د برېښنا ضد ثبات ته په کتنې سره مختلف وي. په حساسو برېښنايي وسايلو د ساکنې برېښنا د خارجېدونکې مادې اغېز د نمونې جوړولو لپاره، يو انسان د ۱۰۰ پيکوفراډز د کپيسيټر په توګه ښودل کېدای شي، کوم چې له ۴۰۰۰ څخه تر ۳۵۰۰۰ ولټه ولټاژ پورې چارج کېدای شي. کله چې يو شی لمس کړي، نو انرژي د يو مايکروسيکنډ څخه هم په کم وخت کې خارج کېږي. که څه هم ټوله انرژي کمه ده، د مليجولز د ترتيب پر بنسټ، دا بيا هم حساسو برېښنايي وسايلو ته زيان رسولای شي. لوی شيان زياته انرژي زېرمه کوي، کومه چې شوني ده نېغ په نېغه د انسان سره د اړيکې پر مهال زيان رسونکې وي، يا شوني ده داسې يوه سپرغۍ پيدا کړي چې اور اخيستونکی ګاز يا ايرې هم بدلولای شي.

# په ۱۴۰۳ هـ ل کال کې د کابل ښار د ځمکې لاندې اوبو د وضعيت ارزونه

ليکونکی: انجنير عزيزالرحمن "عزيز"

## لنډيز

اوبه د ژوند د دوام او د بشري ټولنو د پرمختګ بنسټ دی. د ځمکې لاندې اوبو زېرمې د افغانستان په څېر د وچ اقليم لرونکو هېوادونو د ښتاک، کورنۍلګښت، کرنې او صنعت لپاره تر ټولو مهمې سرچينې دي .

د کابل ښار د هېواد په مرکز کې ځای لري او د ښار د ٤.٦ میلیونه وګړو د اړتیا ډېره برخه د ځمکې لاندې اوبو له سرچينو پوره کېږي. د اقليم بدلون، د نفوس ګړ ميشت کېدل، ښاري پراختيا او د اوبو بې دريغه رااېستلو د اوبو سطحه په بې‌ساري کچه ټيټه کړې ده. د کابل ښار درې ګونه اصلي اوبه لرونکي پوړونه (اکويفيرونه) د سخت کمښت سره مخ دي او کلنی منفي توازن يې شاوخوا تر ۸۹ ميليونه متر مکعب رسيدلی دی. د بحران ځرګنده نښې د څاګانو وچېدل او د اوبو رسونې ستونزې دي. د مقالې په پای کې سپارښتنې عاجلې او اوږدمهاله حل لارې لري، لکه د خلکو پوهاوی، د غيرقانونې څاګانو کنټرول، د باران اوبو راټولول، مصنوعي تغذيه،د اوبو لېږد، بندونه جوړول، او د څارنې شبکو پراختيا. پايله دا ده چې د کابل ښار د ځمکې لاندې اوبو دوامداره مديريت د اقليمي او بشري فشارونو د کمولو لپاره حياتي ارزښت لري.

## د څېړنې ساحه او اقليمي شرايط

د کابل ښار د افغانستان په مرکزي برخه کې موقعيت لري چې شاوخوا د ۱۰۲۸ کيلومتره مربع مساحت په لرلو سره د ٤.٦ ميليونه وګړو استوګنځی دی. دغه ښار د هندوکش غرونو په لمنو کې په شاوخوا ۱۸۰۰ مترو لوړوالي موقعيت لري. د کابل اقليم نيمه وچه بڼه لري، د ژمي اورښتونه د دې ښار د اوبو د زېرمو لپاره حياتي رول لري او ورپسې او د اوړي وچ موسم بيا د اوبو له اړخه ستونزمن وي. دا ښار منځ مهاله اورښتونه لري چې کلنۍ کچه يې له ۳۰۰ تر ٤۰۰ ميلي‌مترو رسېږي او د ځمکې لاندې اوبو د طبيعي تغذيې اصلي سرچينه ده. په وروستيو کلونو کې د اورښت کموالی او د سطحي اوبو د زېرمو نشتون د اوبو توازن ډېر ګډوډ کړی دی.

## جيولوجي او جيومورفولوژي

د کابل جيولوجي له پخوانيو جيولوجيکی دورو تر معاصرو رسوباتو پورې غځېدلې ده. د پرې‌کامبرين دورې کلکې او لږ نفوذ لرونکې ډبرې شتون لري، چې د اوبو د تېرېدو وړتيا يې ډېره کمه ده. برعکس په هـــموارو سيـــمو کې د څلـــورمې دورې (Quaternary)آلووياله رسوبات د جغل، ريګ او خټو له طبقو جوړ دي چې د اوبو د نفوذ لپاره مناسب شرايط برابروي. همدا رسوبات د کابل د ښار درې اصلي ( پغمان–دارالامان، لوګر او شمال) اکويفيرونه جوړوي اما په تاسف سره چې اکثرا د طبقې وچې شوې او يا هم د وچېدو سره مخ دي.

د جيومورفولوژي له نظره، کابل ښار د غرونو ترمنځ پرته دره ده چې د لويديځ او جنوب لوريو څخه ختيځ ته اوبه بهېږي. د لوړو سيمو او ټيټو واديو ترمنځ اوبو د حرکت لورى ټاکې، او د ځمکې لاندې اوبو جريان له لوړو سيمو (د تغذيې ساحو) څخه ټيټو برخو (د تخليې سيمو) ته واقع دی.




جيومورفولوژي نقشه




جيومورفولوژی نقشه

## د ځمکې لاندې اوبو اوسنی حالت

د کابل ښار د اوبو د اړتيا ډېره برخه د ځمکې لاندې اوبو له سرچينو څخه پوره کېږي، خو په وروستيو کلونو کې د اقليم بدلون، د نفوس زياتوالی، ښاري پراختيا، او د اوبو بې‌ځايه استخراج د دې لامل شوي چې د اوبو سطحه په بې‌ساري ډول ټيټه شوې او د يوه جدي چاپېريالي ګواښ بڼه يې غوره کړې ده.

د څارنيزې شبکې د معلوماتو له مخې، په ۱۴۰۳ کال کې د کابل ښار د ډېرو سيمو د ځمکې لاندې اوبو سطحه د خطر زون ته رسېدلې ده. د خيرخانې سيمه، چې د کابل ښار د ۱۱ مې ناحيې برخه ده، د اوبو ژوروالی يې تر ۱۲۱ مترو رسېدلی، او د پايتخت تر ټولو بحراني سيمه ګڼل کېږي. په مقابل کې د ښار مرکزي سيمې، چې د لوګر اکويفير برخه جوړوي تر ۲۵ مترو په ژوروالي سره د نسبي ښه والي حالت لري، خو د جنوب‌ختيځو سيمو ژوروالی بيا تر ۱۱۰ مترو پورې رسېدلی دی. د پغمان–دارالامان اکويفير هم د اوبو له سخت کموالي سره مخ دی او د اوبو سطحې اعظمي ژوروالی له ۸۰ تر ۹۵ مترو پورې ټيټ شوی دی.

د يوه کال په اوږدو کې په منځنۍ کچه د اوبو سطحه تر ۳ مترو راټيټه شوې، خو په ځينو بحراني سيمو کې بيا تر ۱۸ مترو پورې هم رسېږي. د اوبو د تغذيې او تخليې د انډول تحليل ښيي چې د اوبو کلنی منفي توازن شاوخوا ۸۹ ميليونه متر مکعب اټکل شوی، چې دا د طبيعي تغذيې په پرتله د اوبو رااېستلو بېسارې لوړه کچه څرګندوي.




د کابل ښار د ځمکې لاندې اوبو نقشه





### د ناورین اصلي لاملونه

- د اقلیم بدلون او د باران او واورې د ورښت کموالی.
- د اوبو د سطحي زېرمو نشتوالی او د زېرمه کولو ضعیف سیستمونه.
- د ځمکې لاندې اوبو پر سرچینو بېحده اتکاء او د راایستلو د کنټرول کمزورتیا.
- د وګړو ګڼ مېشت کېدل، ښاري پراختیا او د فاضله اوبو ناسم مدیریت.

### پایلې او اغېزې

د ځمکې لاندې اوبو دوامداره کمښت د کابل ښار د چاپېریال او ټولنیز اقتصاد لپاره ګواښوونکی پیغام لري. په مختلفو سیمو کې د څاګانو وچېدل، د ځمکې د ناستې ثبت کېدل، او د څښاک اوبو ته د لاسرسي ستونزې د بحران څرګندې نښې دي. د دې حالت دوام د ښار د ګڼ شمېر کورنیو ژوند له جدي زیان سره مخ کړی او د اقتصادي-ټولنیزو فعالیتونو پر دوام منفي اغېزې لري.

### سپارښتنې او حل لارې

#### الف – عاجلې او لنډمهاله حل لارې:

- د خلکو د پوهاوي لوړول، د اوبو د سپما فرهنګ عامول او د فردي مسئولیت احساس لوړېدل.
- د کېندل شوو غیرقانوني څاګانو قانوني کول او د استخراج جوازونه محدودول.
- د باران اوبو راټولول او د ځمکې لاندې پوړونو ته د نفوذ سیستمونو پراختیا.
- د کارول شوو اوبو د بیا کارولو په موخه د تصفیې سیستمونه جوړول.
- د اوبو راایستلو څاګانو نوبتي کارول او د تعدد پر ځای له یوه معیاري څاه د ګټې اخیستنې د سیستم پراختیا.

#### ب – بنسټیزې او اوږدمهاله حل لارې:

- د کابل ښار ته له نږدې سرچینو د اوبو لېږد پروژې پلي کول.
- د للندر بند ودانول او د اوبو رسونې د معیاري شبکو پراختیا.
- د کابل ښار اوبو سرچینو مدیریت د تسوید شوي طرحې لمړیتوب او د پلي کېدو لپاره یې ستراتیژیک پلان جوړول.
- د مطالعاتو له مخې د اوبخوړونو مدیریت او د سطحي اوبو زېرمه کولو په موخه د منځنیو او کوچنیو بندونو ودانول.
- د ځمکې لاندې پوړونو ته د اوبو د منظم نفوذ په موخه د مصنوعي تغذیې پروژو پراختیا.
- د کارول شوو اوبو د تصفیه‌خونو د شمېر، ظرفیت او کیفیت پراختیا.
- تر تصفیې وروسته په کرنه، صنعت او ښاري سمسمورتیا کې د کارول شوو اوبو بیا کارول.
- د دوامداري څارنې او اغېزمن مدیریت په موخه د اوبو سرچینو د څارنې شبکو او څېړنو پراختیا.

### پایله

د کابل ښار د ځمکې لاندې اوبو وضعیت د جدي اقلیمي او بشري فشارونو له امله په ناورین بدلېدونکی دی. د اقلیم بدلون او بې‌ځایه استخراج په درې واړو اوبو لرونکو پوړونو (اکویفیرونو) کې په پراخه کچه د بیا تغذیې پر طبقو د وچېدو لامل شوي دي. د تېرو درېو لسیزو راهیسې د تغذیې او تخلیې تر منځ منفي انډول د څښاک اوبو، کرنې، صنعت او چاپېریال ثبات ته جدي ګواښونه رامنځته کړي دي.

پدې توګه اړینه ګڼل کېږي، چې د اوبو د مدیریت نوې لارې چارې، د اوبو لېږد، بندونو ودانول، د سرچینو تغذیه او اړونده اصول د افغانستان اسلامي امارت، مرستندویه بنسټونو او ټولنې په ګډو هڅو پلي شي، ترڅو د کابل ښار د اوبو ستونزې حل او د دې حیاتي سرچینو احیاء خوندي شي.

# د سېلاب خبرتیا سیستمونه او د ټیکنالوژي رول

## د افغان ټولنو ساتنه او د حکومت د هڅو پیاوړتیا

ترتیب کوونکی : انجنیر حبیب الرحمن "جلالزی"

### په افغانستان کې د سېلاب خبرتیا تاریخي بهیر



افغانستان یو غرنی هیواد دی چې ډیر سیندونه او ویالې لري. د اقلیم بدلون د بارانونو نمونې بدلې کړې او د شدیدو بارانونو او سیلابونو خطر یې زیات کړی دی. په تیرو وختونو کې، افغانستان د ویجاړونکو سیلابونو سره مخ شوی دی چې ډیری خلک یې بې ځایه کړي، ژوند یې اخیستی او زیربناوو ته یې زیان رسولی دی، سړکونه، پلونه او کورونه یې ویجاړکړي دي. کرنې ته یې هم ډیر زیان رسولی دی، فصلونه یې له منځه وړي او د خلکو معیشیت یې له ګواښ سره مخ کړی دی. د دې ټولو زیانونو له امله، سیلابونه په افغانستان کې ډیر ګران تماميږي او د هیواد په اقتصادي او ټولنیز پرمختګ باندې منفي اغیزه کوي.



په تیرو وختونو کې، په افغانستان کې د سېلاب خبرتیاوې تر ډیره په دودیزو میتودونو او سیمه ییزو معلوماتو تکیه کوله. د سیندونو د سطحې څارنه د ټولنې مشرانو او د کلي اوسیدونکو په غاړه وه، چې د سیند د غیر معمولي لوړیدو په لیدلو به یې نورو ته خبر ورکاوه. د خبرتیاوو لپاره له ډولونو، چیغو او نورو دودیزو لارو څخه کار اخیستل کېده. په دغو دودیزو لارو کې د کورونو دروازې ټکول، د سېلاب څارونکي، د ګرځنده غږیزو وسیلو کارول (لکه لاوډ سپیکرونه)، د جوماتونو له لارې خبرتیا، د عامه اعلانونو سیستمونه، د راډیو له لارې خپروني، او په ځینو ښارونو کې د ټلویزیون خپروني شاملې وې (که څه هم لاسرسی محدود وو). د هوا پېژندنې معلومات محدود وو او د سېلابونو وړاندوینې ډیرې کره نه وې، چې له امله یې د چمتووالي لپاره وخت کم وو او زیانونه ډیر وو. وروسته، کله چې ځمکني ټیلیفونونه په ځینو ښارونو کې موجود شول، د سېلاب خبرتیا لپاره د ټیلیفونونو څخه هم کار اخیستل پیل شو، خو دا طریقه محدوده وه ځکه چې ټیلیفونونه په ټولو سیمو کې نه وو. د وخت په تیریدو او د ګرځنده ټیلیفونونو په راتګ سره، د سېلاب خبرتیا لپاره د ګرځنده ټیلیفونونو کارول هم عام شول، چې د خبرتیا په رسولو کې یې چټکتیا او پراختیا رامنځته کړه، خو بیا هم په لرې پرتو سیمو کې د شبکو د نشتوالي له امله ستونزې موجودې وې .

نن ورځ، د ټیکنالوژۍ په پرمختګ سره، د افغانستان د سېلاب خبرتیا سیستمونو هم وده کړې ده. د هوا پېژندنې سټیشنونه، د سپوږمکۍ معلومات او د معلوماتو راټولولو نور عصري وسایل کارول کیږي ترڅو د سېلابونو په اړه دقیق معلومات وړاندې کړي. د سېلاب خبرتیا مرکزونه جوړ شوي چې د سېلابونو د خطرونو په اړه معلومات راټولوي او خپروي. خو سره له دې ټولو هڅو، د معلوماتو په راټولولو کې محدودیتونه شتون لري، په ځانګړې توګه په لرې پرتو او غرنیو سیمو کې چې د هوا پېژندنې سټیشنونه او د معلوماتو راټولولو نور وسایل کم دي. د بودیجې د کمښت له امله لا تر اوسه نوې ټیکنالوژي په بشپړه توګه نه ده پلي شوې، او د دې سیستمونو پوښښ ټول هیواد نه دی پوښلی. ډیرو کلیوالي سیمو ته د خبرتیا رسولو کې ستونزې شتون لري او د خلکو د خبرتیا لپاره پوره امکانات نشته.

### راتلونکې ته کتنه



راتلونکې ته که ګورو، د افغانستان د سېلاب خبرتیا سیستمونه به نور هم ښه شي. نوې ټیکنالوژي به وکارول شي او د خلکو مرسته به هم ډیره مهمه وي. داسې ماشینونه به جوړ شي چې د سېلاب په اړه دقیق معلومات راکوي، دا ماشینونه به د مصنوعي ځیرکتیا (AI) په مرسته کار کوي او د مختلفو معلوماتو په اساس د سېلاب د راتلو وخت او ځای به په سمه توګه معلوموي. د لرې واټن څخه د معلوماتو راټولولو لپاره به ځانګړي سینسرونه او ټیلي میټري سیستمونه (هغه وسایل چې د سیند په غاړه لګول کیږي چې د سیندونو د اوبو کچه او د باران اندازه په اتومات ډول معلوموي او مور ته یې رالیږي) هم وکارول شي. د موبایل او ټولنیزو رسنیو له لارې به ژر خلکو ته خبر رسیږي، ترڅو هغوی ځانونه وژغوري. همدا رنګه، د کلي له خلکو سره به همکاري کوو او د هغوی مشورې به هم اخلو، ترڅو د سېلاب خبرتیا سیستم نور هم ګټور شي.

## د سېلاب خبرتیا سیستمونه څه دي؟



د سېلاب خبرتیا سیستمونه هغه چوکاټونه دي چې په ریښتیني وخت کې د سېلاب خطرونو د څارنې، وړاندوینې او خبرولو لپاره ډیزاین شوي دي. دوی د هوا د وړاندوینو، د سیند د سطحې اندازه کولو، د باران سینسرونو او د سپوږمکۍ انځورونو څخه معلومات سره یوځای کوي ترڅو د سېلاب احتمال و ارزوي. پرمختللي سیستمونه د مصنوعي ځیرکتیا (AI) څخه کار اخلي ترڅو د وړاندوینې دقت ته وده ورکړي. خبرتیاوې د جوماتونو له لارې، د سیمه ییزو راډیوګانو، ګرځنده موبایلونو، او ټولنیزو رسنیو له لارې خپرېږي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې زیان منونکو ټولنو ته ور ورسیږي




## دوهمه برخه: د سېلاب خبرتیا سیستمونو کې د ټیکنالوژۍ کارول




### تخنیکي نوښتونه(Technical Innovations)

☐ مصنوعي ځیرکتیا او د ماشین زده کړه :(Artificial Intelligence and Machine Learning)

مصنوعي ځیرکتیا (AI) د دې لپاره کارول کیږي چې د هوا، پخوانیو معلوماتو او د سینسرونو څخه ترلاسه شوي معلومات تحلیل کړي ترڅو دقیقې وړاندوینې وکړي. د ګوګل د سېلاب وړاندوینې پروګرام یوه ښه بېلګه ده، چې د سیندونو د اوبو د اندازې معلوملو لپاره مصنوعي ځیرکتیا کاروي. دا پروګرام د وخت په تېربدو سره لا ښه کېږي ځکه چې نوي معلومات ترلاسه کوي.



د شیانو انټرنیټ (IoT) او د سینسر شبکې (Internet of Things and Sensor Networks):(IoT)سینسرونه په ریښتیني وخت کې د اوبو کچه او د باران اندازه څاري، چې دا د سېلاب په اړه لومړنۍ خبرتیاوې خورا دقیق او پیاوړې کوي. دا کار خلکو ته د ځان ژغورنې لپاره ډېر وخت ورکوي.



د سپوږمکۍ انځورونه او لیرې سینسنګ :(Satellite Imagery and Remote Sensing)

د سپوږمکۍ انځورونه او لیرې سینسنګ د ځمکې څخه لرې د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره کارول کیږي. د NASA د نړیوال باران اندازه کولو (GPM) ماموریت د هغو سیمو لپاره د باران معلومات چمتو کوي چې لاسرسی ورته ګران دی. ډرونونه هم د دې لپاره کارول کیږي چې د سېلاب ځپلې سیمې په ډېر دقت سره ونبودل شي.



د ګرځنده او ټولنیزو رسنیو یوځای کول: (Mobile and Social Media Integration)

د ګرځنده تلیفونونو لپاره جوړ شوي اپیسونه (Apps) او د ټولنیزو رسنیو ویب سایټونه لکه X (پخوانی ټویټر) د دې لپاره کارول کیږي چې خلکو ته ژر تر ژره خبرتیاوې ورسول شي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال د اروپا د سېلابونو په جریان کې، Xپه چټکۍ سره خبرتیاوې خپرې کړې، چې ملیونونو خلکو ته ورسېدې.




د جغرافیایي معلوماتو سیستمونه :() (GIS)

د جغرافیایي معلوماتو سیستمونه (GIS) د دې لپاره کارول کیږي چې د سېلاب د خطر نقشې جوړې کړي، چې د خلکو د تخلیې (evacuation) په وخت کې لارښوونه کوي. د هالنډ ډیجیټل ډیلټا پروژې د سېلاب د مختلفو حالاتو د سمولو لپاره GIS کاروي، ترڅو ښه پلانونه جوړ کړي.

د ټولنو لپاره ګټې

۱- د سېلاب خبرتیاوې

خبرتیاوې د سېلاب د راتلو څخه څو ساعته وړاندې، او کله کله څو ورځې وړاندې خپرېږي. دا وخت د کورنیو لپاره یو فرصت دی چې د خطر څخه ځانونه لرې کړي. کورونه په چټکۍ سره خالي کړی، او خوندي ځایونو ته ځان ورسوی.



۲. د ملکیت ساتنه

خبرتیاوې اوسېدونکو ته فرصت ورکوي چې قیمتي شیان انتقال کړي، د سېلاب خنډونه جوړ کړي لکه د شګو کڅوړې .

)د امریکایي ودانیو د علومو ملي انستیټیوټ یوه څېړنه کې موندلې چې په لومړني خبرتیا سیستمونو کې په هر ډالر پانګونه د ملکیت په زیانونو کې ٦ ډالره سپما کوي-https://nibs.org/projects/natural-hazard. -report)۲۰۱۹mitigation-saves-

۳. د ټولنې چمتووالی او پوهاوی

منظم تازه معلومات او تمرینونه چمتووالي ته وده ورکوي. د جاپان د ناورین مخنیوي اپلیکیشن، چې خبرتیاوې د سرپناه نقشو سره یوځای کوي، د مرینې کچه یې راټیټه کړې ده . ( https://nerv.app/en ) په بنګله دیش کې د ټولنې پر بنسټ سیستمونه رضاکارانو ته واک ورکوي چې خبرتیاوې شریکې کړي، چې سیمه ایز مقاومت ته وده ورکوي . ( https://www.ifrc.org/article/we-will-be-there-them-communities-most-vulnerable-storms-volunteers-rise-challenge )

٤- د سیمه ایزو ټولنو ګډون او پخوانی تجربې:

د سیلابونو د خبرتیا سیستمونو په جوړولو او پلي کولو کې د سیمه ایزو ټولنو ګډون ډیر اړین دی. کله چې خلک په خپله په دې پروسه کې برخه اخلي، دوی د سیلابونو نمونې، د خطر نښې او د ځان ساتنې لارې چارې ښې پیژني. د دې پوهې په کارولو سره، موږ کولی شو د سیلابونو د خبرتیا سیستمونه ډیر اغېزمن کړو. په نتیجه کې دوی د سیستم په اړه ډیر باور پیدا کوي او د هغې په کارولو کې ډیر لیواله وي او د دې سبب کیږي چې سیستم د دوی اړتیاوو ته ډیر ځواب ویونکی وي.

د حکومتونو لپاره ګټې

۱-د ناورین اغېزمن مدیریت

د ریښتیني وخت معلومات) مثال د سپوږمکۍ لخوا څمکني تصویرونه اوAI معلومات( حکومتونو سره مرسته کوي چې سرچینو ته لومړیتوب ورکړي د سیلابونو د خبرتیا سیستمونو له وړاندوینو څخه کار په اخیستو سره اکمالات ځای پر ځای‌کېدای شي او د ناورین په وخت کې چټک غبرګون ونیبي.

۲- د لګښت سپما

د نړیوال بانک په اټکل سره، د خبرتیا لومړني سیستمونه د ناورین لګښتونه تر ۳۰٪ کموي، لکه څنګه چې په هند کې د سېلاب د ځارنې پانګونو د مرستې په لګښتونو کې میلیونونه سپما کړې ده( https://documents۱.worldbank.org/curated/en/۱۹۰۲٦۱٤٦۸۱۸۱٤۸٦٦۹٤/pdf/WPS٦۰٥۸.pdf ) .

۳- د معلوماتو پر بنسټ پالیسي او پلان جوړونه

دقیق معلومات د پالیسیو او پلانونو په جوړولو کې ډېره مهمه ونډه لري، په ځانګړې توګه د ښاري پراختیا او د اقلیم د بدلون سره د توافق په برخه کې. د سېلاب په اړه معلومات ښاري پلان جوړونکو ته دا توان ورکوي چې په سېلاب ځپلو سیمو کې د کورونو او ودانیو جوړولو مخه ونیسي او د سېلاب د خطر کمولو لپاره نور اقدامات وکړي. د مثال په توګه، د هالنډ د "سیند لپاره خونه" پروګرام، چې د سېلاب د معلوماتو په لارښوونه جوړ شوی، د سېلابونو د ناورین مخه نیولې ده. دا پروګرام د سیند د غاړې په اوږدو کې د ځمکو په بیا رغونه تمرکز کوي ترڅو د سیند د اوبو د زیاتوالي په وخت کې د اوبو د خپرېدو لپاره ځای زیات شي ( https://en.wikipedia.org/wiki/Room_for_the_River ) .

٤- نړیواله همکاري

نړیواله همکاري د افغانستان په څېر هېوادونو کې د سېلاب د خطر په کمولو کې ډېر اړین رول لوبوي. څکه چې دغه هېواد د اقلیمي بدلون له امله له ډېرو زیانمنونکو هېوادونو څخه دی او په وروستیو کلونو کې د سېلابونو له کبله پراخې ویجاړتیاوې رامنځته شوي دي. د ملګرو ملتونو د استازولۍ یوناما او نورو نړیوالو سازمانونو په مرسته، د ونو کښنولو، د اوبو سرچینو مدیریت، د زیربناوو رغولو او د اقلیمي بدلون د ناوړه اغېزو د کمولو لپاره هڅې روانې دي. دغه نړیوال ملاتړ نه یوازې د بشري مرستو په بنه بلکې د چاپېریال د ساتنې او د سیمې د مقاومت د لوړولو په برخه کې هم دوام لري، ځو د سېلابونو له کبله د خلکو او اقتصاد زیانونه راکم شي. همدارنګه، اروپایي ټولنې او نړیوالې مرستندویه ادارې په بېلابېلو ولایتونو کې د سېلاب ځپلو سره د بشري مرستو ترڅنګ د اقلیمي بدلون پر وړاندې د اوږدمهاله حل لارو لپاره هم مالي او تخنیکي ملاتړ برابروي ( https://www.bbc.com/pashto/articles/cy۹۹j۹ddqvzo
https://crisisresponse.iom.int/response/afghanistan-crisis-response-plan-۲۰۲٥) .

د سېلاب د خبرتیا په سیستمونو کې ننګونې:

- د سېلاب د خبرتیا سیستم جوړول او چلول ګران تمامیدل.
- په ټیټ عاید لرونکو سیمو کې محدوده زیربناوې:
- د سړکونو، د مخابراتي شبکو پوښښ کموالی، او بریښنا نشتوالی د خبرتیا رسولو او د ژغورنې هڅو مخه نیسي.
- د غلطو خبرتیاوو له امله د خلکو بې باوري:
- پرله پسې غلطې خبرتیاوې په سیستم باندې د خلکو باور کموي.
- خلک ښایي حقیقي خبرتیاوې له پامه وغورځوي، چې د مرګ ژوبلې د زیاتوالي لامل کیږي.
- د خلکو د معلوماتو د پټ ساتلو په اړه اندېښنې ، په ځانګړې توګه کله چې ډرونونه او نور وسایل کارول کیږي.

**حل لارې:**

- د مصنوعي ځیرکتیا (AI) پر بنسټ ماډلونه:
- د سېلاب د ډېرو دقیقو وړاندوینو لپاره لوی ډېټاسیټونه تحلیلوي.
- ارزانه سینسرونه:
